خراسان غږ

خراسان غږ مجله

څلورمه ګڼه

قْتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ
مُّؤْمِنِينَ (14) وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ وَيَتُوبُ اللّٰهُ عَلٰى مَن يَشَآءُ وَاللّٰهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ

له هغو سره وجنګېږئ؛ الله به ستاسي په لاسونو هغوی ته سزا ورکړي، او ذليل او خوار به يې کړي، او د هغو په مقابل کښي به ستاسي مرسته وکړي او د ډېرو مؤمنانو زړونه به يخ کړي. (14) او د هغوی د زړونو تاؤ به ايسته کړي. او چا ته يې چي خوښه شي د توبې توفيق به هم ورکړي. الله په هر څه پوهېدونکی، د حکمت څښتن دی.

[سُورَةُ التوبة :14-15]

ديني، تاريخي، سياسي، ادبي او خبري مجله

لاروی

د محمد بن مسلمة رضي الله عنه

ابومحمد التاجيکي تقبله الله

خراسان د مرتدينو او مشرکينو مقبره

تفسير القرآن الکريم

طالبان اوس امريکا خپله دښمنه نه ګڼي

له جماته تر درمساله

د اسلام توره

د مجاهدينو ډاکټر لنډه کيسه

مؤسسة العزائم الإعلامية

سرلیک

مؤسسة العزائم الإعلامية

دیني برخه

تفسیر القرآن الکریم
سورة التوبه — 1

نثر اللؤلؤ والمرجان
في سلسلة معرفة الرحیم الرحمان - 3 — 5

الفلاح والرشاد
في مسائل الجهاد - 3 — 8

له حق منعه کوونکي
اسباب — 11

لسیزه د ذوالحجة — 16

سیاسي برخه

د محمد بن مسلمه
لاروي — 17

مرتد طالبان اوس امریکا
خپله دښمنه نه ګڼي ! — 22

د وزیرستان د القاعدې د منهج او
فعالیتونو په اړه یوه کورنۍ ګواهي
لومړۍ برخه — 27

له جوماته تر درمساله — 29

ادبي برخه

د اسلام توره — 34

شعر
ورک دی ... ! — 37

د مجاهدینو ډاکټر — 38

های ! افسوس دی ما لره — 40

تاریخي برخه

د سیرت درسونو ته یوځي کتنه ! - 4
د یثرب له خلکو سره اړیکي — 41

خبري برخه

انفوګرافیک - 4 — 43

خراسان د مرتدینو مقبره - 3 — 44

تفسير القرآن الكريم

سورة التوبة

څلورم درس ۴

أعوذ بالله من الشيطن الرجيم

سورت توبه شروع وه، مخکې آيتونو کې الله عزوجل وفرمايل چې کله څلور مياشتې تيرې شي نو بيا دا مشرکان چې غير موقته معاهده وه، په هر ځای يې ووژنئ، وترئ، حصار يې کړئ. وس ددې آيت متعلق حافظ ابن کثير وايي: الله عزوجل د مشرکانو څخه براءت او بيا څلور مياشتې مهلت ورکول او د هغې نه وروسته وژلو امر حکمت ذکر کوي. او ددې سره سره دا رد په اول مانع د قتال باندې، چې بعضې خلکو دا فکر و چې مشرکانو سره خو مونږ لوظ کړی و نو جنگ ورسره څنگه وکړو ؟ الله عزوجل به جواب وکړي چې دوی خپل لوظونه مات کړيدي نو الله او د هغه رسول ددغه مشرکانو د لوظونو رعايت نه کوي، او هر چې دويمه ډله ده چې په عهد يې وفا کړې ده نو هغه سره به اتمام د نيتې کولې شي.

كَيْفَ يَكُونُ لِلْمُشْرِكِينَ عَهْدٌ عِنْدَ اللَّهِ وَعِنْدَ رَسُولِهِ إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ فَمَا اسْتَقَامُوا لَكُمْ فَاسْتَقِيمُوا لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ (7)

څنگه به وي د مشرکانو لپاره لوظ د الله تعالی او د هغه د رسول په نزد، مگر هغه کسان چې تاسې ورسره لوظ کړيدی په خوا د مسجد حرام کې، نو څو پورې چې دوی کلک وي تاسې سره په (لوظ باندې) نو تاسې هم ورسره کلک پاتې شئ، يقينا الله تعالی متقيان خوښوي.

{كَيْفَ يَكُونُ لِلْمُشْرِكِينَ عَهْدٌ}:

(كيف) استفهام دلته د تعجب لپاره دی چې متضمن دی انکار لره. حاصل يې دا راوځي: كيف يكون للمشركين عهد وَأَمَانٌ وَيُتْرَكُونَ فِيمَا هُمْ فِيهِ وَهُمْ مُشْرِكُونَ بِاللَّهِ كَافِرُونَ بِهِ وَبِرَسُولِهِ.

څنگه به وي مشرکانو لره لوظ، او امان او دوی به پريښودلې شي په خپل کار کې، او په خپل حالت باندې او هغوی په الله باندې شرک جوړونکي او کفر کونکي دي، او په رسول د هغه هم کافران دي.

دا څنگه امکان لري چې ددې خلکو سره د امان او عهد لحاظ وساتل شي سره ددې چې دوی ستاسې دښمنان دي، او ستاسې پرضد د خيانت ارادې لري، دسيسې جوړوي، نو دوی دې ددغه صلحې او امان سوچونه د ذهن څخه وباسي، چې خپله خيانت کوي نو د مسلمانانو څخه دې هم د امانت طمعې نه لري، بلکې دوی ته صفا اعلان وشو چې تاسې سره زمونږه صلح ختمه شوه.

نن سبا هم د امريکايي، اروپايي او نورو نړيوالو اشغالگرو سره به څنگه لوظ وشي چې لوظونه يې مات کړي دي، د اسلام او مسلمانانو پرضد توطيې جوړوي، د طالبانو داخلي او خارجي نظام کې خپلې غوښتنې عملي کوي، اسلامي حدودو مخنيوی کوي، د سابقه کابل اداري مرتدينو ته په حکومت کې ونډه غواړي، په خلکو باندې اسلامي نظام پلی کولو مخالفت ښايي، د روافضو شيعه گانو او د گستاخ رسول عليه السلام هندوانو ته تحفظ واجب گڼي، او د اسلامي خلافت مجاهدينو پرضد عمليات کولو باندې يې د طالب مشرانو څخه پاخه بيعتونه اخيستي دي، دلته يې سفيران د طالبانو تولې چارې پرمخ وړي، هوايي ډگرونه يې د جمهوريت په څير په قطر او ترکيا باندې پلورلي دي، دار الاسلام د تير په څير اشغال ده، طالب مشران چې قدم هم پورته کوي د خپلو دغه بادارانو سره مشوره کوي، د تعليم نصاب يې هماغه زوړ جمهوري نصاب برقرار ساتلی دی، چې راروان نسل ديموکراتان وروزي، نو داسې حال کې قرآني حکم دا دي چې دوی سره به عهدونه نشي کولای، او سابقه کوم لوظونه چې شوي وي، لکه دوحه کې چې طالبانو لوظونه کړي وو، نو دغه به باطل اعلانيږي، او محارب کفارو سره به د جهاد اعلان کيږي. ځکه دغه اشغالگرو خو ايمان هم ندی راوړی، او د مسلمانانو اذيت او تکليف څخه يې هم لاس ندی اخيستی نو ځکه ورسره صلح ختمه ده.

{إلا الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ}:

وس الله عزوجل دلته استدراک کوي، چې تاسې کومو قومونو سره د مسجد حرام په خوا کې لوظ کړی دی، او هغوی په خپل عهد وفا کړې ده، عهد يې ندی مات کړې، د مسلمانانو داخلي او خارجي پاليسي کې گوتې نه وهي، اسلامي احکاماتو مخه نه نيسي، نو بيا ورسره جنگ مه کوئ، بلکې د صلح نيته ورسره پوره کړئ. چې ددې ډلې ذکر مخکې څلورم آيت کې الله عزوجل وکړو، چې هغوی معاهده نده نقض کړې. او يا ابن کثير وايي مراد ترې د مکې قريش وو، چې هغوی حديبيه کې معاهده وکړه او بيا دوه کاله يې ورباندې وفا وکړه، نو مسلمانانو هم ورسره وفا وکړه او چې کله يې دوه کاله پس معاهده نقض کړه نو نبي عليه السلام پرې حمله وکړه.

{فَمَا اسْتَقَامُوا لَكُمْ فَاسْتَقِيمُوا لَهُمْ}:

يعني ترڅو پورې چې دوی پخپل عهد باندې کلک ولاړ وي نو تاسې هم ورسره خيانت مه کوئ، بلکې په وعده ورسره ټينگ ودريږئ.

نن سبا خو خبره بيخي ددې عکس ده، مثال په ډول امريکا نن سبا وايي چې طالبانو چې د انجونو مکتبونو ته اجازت ورنه کړو نو دا يې د ژمنو خلاف کار وکړو، نو هغه امريکا چې زنانه څخه يې مزدوره او د جنسي هوس آله جوړه کړې ده، د هغې زمونږ د مسلمانانو پيغلو او انجونو د تعليم په اړه څه کار دی ؟ خو دا سيکولر تعليم باندې د طالبانو او امريکايانو موافقه شوې، دغه رنگ کله چې کابل کې بعضې د پوهنتون کميونسټ استاذان طالبانو ونيول، د بعضې رسنيو کارمندان او رئيسان يې هم ونيول، امريکا په شمول ټولو کفارو چيغې شروع کړې چې بغير د قيد او شرط يې خوشې کړئ، دا وگورئ، بغير د قيد او شرط لفظ ته مو خيال شته، دا پدې معنا ده چې طالب خودمختار او خپلواک ندی، تړل شوی دی. امر او نهي ورته د اسلام آباد، دوحې او امريکې څخه راځي. دا کفار ترې ټول شموله حکومت غواړي، دغه رنگ طالبانو هزاره شيعه گانو ته حکومت کې ځای ورکړو، د زنانه وو ونډه ترې غواړي، او خارجي پاليسي خو ټوله د امريکايانو په لاس کې ده. نو دا معاهده نده دا تسليمي ده او پدې وفاء کول د مشرکانو اطاعت دی. وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ.

كَيْفَ وَإِنْ يَظْهَرُوا عَلَيْكُمْ لَا يَرْقُبُوا فِيكُمْ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً يُرْضُونَكُمْ بِأَفْوَاهِهِمْ وَتَأْبَى قُلُوبُهُمْ وَأَكْثَرُهُمْ فَاسِقُونَ (8)

څنگه به وي (اعتبار د لوظ) کچيرې دوی غالبه شو په تاسې باندې، نو لحاظ نه کوي دوی په تاسې کې د خپلولۍ او نه هم د لوظ، دوی رضا کوي تاسې په خپلو خولو باندې او انکار کوي زړونه د دوی او ډير ددوی فاسقان دي.

تفسير:

دې آيت کريمه سره ذکر د هغه اسبابو او صفاتو د مشرکانو شروع کيږي، چې موجب د قتال دي، يعنې مونږ دې کفارو سره ولې جنگيږو ؟ ددې علتونه به الله رب العالمين ذکر کړي. چې دا علتونه هر مسلمان لره زده کول پکار دي.

پدې آيت کريمه کې د مشرکانو سره قتال کولو څلور اسباب ذکر دي.

اول: د خپلولۍ خيال نه ساتي.

دويم: د عهد خيال نه ساتي.

دريم: په خوله تاسې ته يو څه وايي خو زړه کې ستاسې په خلاف پټې دسيسې جوړوي.

څلورم: اکثره ددوی فاسقان دي.

[كَيْفَ وَإِنْ يَظْهَرُوا عَلَيْكُمْ لَا يَرْقُبُوا فِيكُمْ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً]:

كيف يعني (كيف يكون لهم عهد) څنگه به د هغوی لپاره عهد وي ؟ دغه عبارت دلته مقدر دی.

الله عزوجل مومنانو ته د مشرکانو په قتال، دښمنۍ او براءت باندې تحريض ورکوي، تيزې ورکوي، او دا خبره ورته ذکر کوي کچيرې دا کفار غالبه شي نو دوی د قرابت، خپلولي، صله رحمي او د ژمنو لحاظ نه ساتي. دا طالبان مونږ تاسې وکتل هغه څوک چې ورته تسليم شوي وو، هغوی سره يې هم خيانت وکړ. هغوی يې هم ووژل، نو دغه خلکو شرکي نظام ته تسليمي هم ورکړه، او بيا يې هم ژوند د لاسه ورکړ، خسر الدنيا والآخرة.

[إِلًّا]:

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه عوفي، عکرمه او علي بن أبي طلحه روايت کوي چې (إِلٌّ) ويل کيږي خپلولۍ ته او ذمه عهد ته ويل کيږي. همدا قول د ضحاک او سُدي څخه هم نقل دی.

امام قتاده وايي دا حِلف ته ويل کيږي.

امام مجاهد وايي چې دا د الله عزوجل نوم دی. لکه ابو مِجلَز هم وايي، جبرائيل، ميکائيل، اسرافيل، دې کې دا ايل نه مراد الله عزوجل دی. د عبراني ژبې لفظ دی، اصل يې (أَلِيْل) دی، نو دلته هم معنا دا ده چې دا کفار د الله عزوجل خيال نه ساتي. لکه نن سبا سيکولر مسلمانانو کې هم د يهود، نصارا او دعربو دمشرکانو دا خوي او عادت راغلی دی چې د الله لحاظ نه کوي خو د زورواکو، اشغالگرو رعايت کوی، د پاکستان حاکمانو ته وگورئ، د سعودي پاچاهانو حال مطالعه کړئ، د حماس، تحرير الشام او طالبانو موقف ته فکر وکړئ چې امريکا او ملگرو ملتونو د مشرانو خبرو ته دو لاسي سلام کوي.

خو حافظ ابن کثير وايي: وَالْقَوْلُ الْأَوَّلُ أَشْهَرُ وَأَظْهَرُ، وَعَلَيْهِ الْأَكْثَرُ.

اول قول (چې ال خپلولي ته ويل کيږي) ظاهر او مشهور دی او د اکثرو مفسرينو قول دی.

[وَلَا ذِمَّةً]:

فتح القدير کې د ذمة تفسير داسې شوی:

ذمه عهد ته ويل کيږي. نو کومو مفسرينو چې د الا معنا هم عهد کړې وه

او د ذمه معنا هم عهد کوي نو هغوی وايي چې دلته تکرار د عهد راغلی، په مختلفو الفاظو سره او مقصود پکې تاکيد دی.

ابو عبيد وايي، ذمه ويل کيږي امان ته، لکه حديث کې راځي: «وَيَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ». او برابر دي په پوره کولو د ذمې (عهد) د هغوی کې کمزوري ددوی. يعني د اهل ذمه سره عهد پوره کولو کې د مسلمانانو ادنی کس هم د اعلی سره يو شان دی. نو ذمې معنا پدې حديث کې بيانه شوه: عهد او لوظ.

وقول أبو عُبَيْدَةَ أَيْضًا أَنَّ الذِّمَّةَ مَا يُتَذَمَّمُ بِهِ، أَيْ: مَا يُجْتَنَبُ فِيهِ الذَّمُّ.

ابو عبيده دا هم وايي ذمه هر هغه څه ته ويل کيږي، چې انسان پکې د ذم او بد ويلو څخه ځان ساتي.

روښانه او ژوندی مثال يې همدا طالبان دي، چې څنګه يې د تسليميدونکو خلکو سره ژمنې وکړې، سابقه حکومت مرتدينو سره يې ژمنې وکړې خو بيرته يې هماغه تسليم شوي کسان ووژل. دا خو د تسليمي ورکونکو حال دی او مسلمانانو خلاف خو ددوی ژمنې او خپلولي هيڅ معنا نه لري.

[يُرْضُونَكُمْ بِأَفْوَاهِهِمْ وَتَأْبَى قُلُوبُهُمْ]:

دوی په خولو باندې داسې ښايسته او ډولي خبرې کوي، چې لپاره چې د مسلمانانو توجه ځانته راجلب کړي، ځان ورته خه خلک معرفي کړي، خو زړونه يې ددې برعکس دي، هغوی د مسلمانانو کړاو، تکليف او خفګان خوښوي. ذو الوجهين دي، دوه مخي خلک دي، ابن الوقت دي، د مادياتو غلامان دي.

نو هغه دښمن چې ستا نه پسې شا ستا پر ضد طرحې او پلانونه جوړوي او مخامخ درته نرمه وينا کوي نو هغه سره هيڅکله لوظ ندی پکار او قتال ورسره پکار دی.

دلته الله عزوجل د رضا نسبت خولې ته کړي او د انکار نسبت يې زړه ته کړي دی، نو پدې نسبت سره يې دغه محاربينو غدر او خيانت ته اشاره وکړه، چې تش په خوله به دې دوستان وي، يو کمزوري تعلق د خولې به درسره ساتي خو حقيقت کې ترڅو چې يې مرتد نه وي ګرځولی، له تا څخه نه راضي کيږي.

[وَأَكْثَرُهُمْ فَاسِقُونَ]:

اکثره ددې مشرکانو فاسقان دی، نو دوی خو ټول فاسقان وو، خو دلته مراد د فاسقانو نه هغه ښکاره عهد ماتونکي دي. او يا مراد ترې هغه مشرکان دي چې تر مرګه پوري په کفر باندې کلک ولاړ وو.

اشْتَرَوْا بِآيَاتِ اللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا فَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِهِ إِنَّهُمْ سَاءَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (9)

دوی اخستي ده په بدل د آيتونو د الله تعالی کې لږه بدله، نو منع کوي دوی خلک د لارې د الله تعالی نه، بد دی هغه عمل چې دوی يې کوي.

تفسير:

دې آيت کريمه کې د مشرکانو سره د برأءت او قتال کولو درې اسباب نور ذکر کيږي. اول: د الله عزوجل احکامو بدله کې ماديات اخستل.

دويم: خپله د الله عزوجل د لارې څخه بنديدل.

دريم: نور خلک هم د الله عزوجل د لارې څخه منع کول.

د الله په احکامو دنيا اخستلو معنا دا ده چې دې مشرکانو دا احکام پريښي دي او ماديات يې غوره کړيدي، فتح القدير کې وايي چې ددغه جمله احکامو څخه يو حکم په عهد باندې وفا کول وو، دوی هغه پريښی دی او مسلمانانو سره يې خيانت وکړو.

دغه رنګ ددنيا زيب او زينت يې د آخرت په حقيقي نعمتونو غوره ګڼلي دي څکه کفر، شرک او ارتداد کې اخته شويدي.

دا طالبان او تش په نوم د اسلامي ملکونو مشران ددنيا چوکۍ لپاره پدغه فارمول عمل کوي، چې مادياتو په عوض يې دين سره الله په اماني وکړه، قانون او نظام يې د ملګرو ملتونو رضا موافق جوړ کړو، هم لازمي مرتد وګرځيدل يعني ځانونه يې هم د خير څخه بند کړل، لکه شرعي احکام يې معطل وګرځول، او دريم صفت يې دا چې متعدي ضرريان هم وګرځيدل، چې نور خلک هم د سمې لارې څخه اړوي، لکه طالبانو قيادت کې چې څومره تنظيمونه وو، هغه ټول يې د ارتداد په لاره روان کړل، که القاعده وه او که نور پاکستان پرضد جنګيدونکي تنظيمونه وو، او عجيبه لا دا چې وس ترې انکار هم کوي، بعينه د ابليس پيروکاران دي او د هغه پاليسي يې خپله کړې، شيطان په انسان باندې کفر وکړي، بيا ترې آخر کې براءت وکړي، همدا کيسه نن طالبانو القاعدې سره وکړه، چې بيخي د ايمن الظواهري بيعت څخه انکار کوي، وايي دا د ملګرو ملتونو امنيت شورا تيروتنه ده او زمونږ د مخالفينو ادرسونو څخه يې دا خبرې اخيستي دي، الله الله، خو القاعده بيا هم د خلافت د ضد له امله طالبانو پورې ځان نښلوي، هغوی يې شړي. رشتيا چې حقيقي جهاد کې حريت او عزت دی.

لَا يَرْقُبُونَ فِي مُؤْمِنٍ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُعْتَدُونَ (10)

لحاظ نه کوي دوی د هيڅ يو مومن په اړه د خپلولۍ او نه د لوظ، او خاص همدغه کسان د حد څخه تجاوز کونکي دي.

نَحّاس وايي دا آيت تکرار ندی بلکې مخکې ټول مشرکان ذکر شول او دلته خاص د يهودو بيان کيږي، او قرينه پرې دا ده چې لږ مخکې داشتروا بآيات الله ثمنا قليلا آيت ذکر دی، هغه سره يې مناسبت دی، يهودو د مادياتو په بدل کې الهي احکام تغييرول او هغوی پدې وصف باندې مشهور وو.

او يا دويم دا ويل شوي چې هلته آيت کريمه کې د مومنانو د يو خاص جماعت حقوق مراد وو او دلته على الاطلاق الله رب العالمين د مومنانو حقوقو مراعات کوي.

[وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُعْتَدُونَ]:

دوی تجاوز کونکي دي د حلال شيانو څخه حرامو ته، په ماتولو د لوظ سره. او يا په شر کې اعلی مرتبې ته رسيدلي دي. لوي شريان دي.

فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَنُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ (11)

کچيرې توبه يې وويستله او پابندي يې کوله د مانځه او ورکوو يې زکات نو ستاسې ورونه دي په دين کې، او تفصيلي بيانوو مونږه آيتونه (احکام) د هغه قوم لپاره چې پوهيږي.

[فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ]

الله عزوجل توبې ته ترغيب ورکوي، دا توبه ويستل د مشرک او مرتد لپاره لازمي دي. بغير د توبې څخه دمشرک او دمرتد بښل په شريعت کې نشته، څکه دا خو د هغوی په ارتداد او شرک ته صحيح ويل دي، او په هغه باندې اقرار کول دي، چې شريعت يې هيڅکله اجازت نه ورکوي. بيا قرآن کريم ډير عجيب کتاب دی، هرې زمانې حالاتو روڼ انځور يې ويستلی دی، نن سبا هغه طالبان چې د اسلامي نظام دعوه لري او د خپل نظام پر وړاندې جنګيدونکي مجاهدين خوارج او باغيان بولي خو دلته يې د الله عزوجل حکم نقض کړی، دوی د کرزي او عبد الله عبد الله پشمول د سابقه مرتد حکومت مشران بغير د توبې وبښل او کشران يې په دندو وګمارل. هغه کرزی چې اشغال ته يې پدې سيمه کې رسميت ورکړ، اشغالګرو سره يې د غلامې ترون امضاء کړ، خو نن بغير د توبې سرې سترګې هرخوا ګرځي راګرځي، او همدا طالبان نړيوالو کانفرنسونو کې چيغې وهي چې سابقه افغان حکومت مرتد کارمندان زمونږ ورونه دي. او ورځ تربلې د سابقه مرتد نظام مفسد چارواکي راروان دي، طالب مشران يې استقبال ته هوايي ميدان ته ورځي، نو توبې پرته ورونه ګڼلو معنا دا ده چې دواړو دين شريک دی چې عبارت دی د سيکولرزم څخه.

بيا دلته تکرار نشته، مخکې چې دا آيت ذکر شو، نو هلته مراد دا وو چې جنګ ورسره مه کوئ، او دلته وايي چې توبه يې وويستله نو صدق ښکاره کيدلو څخه وروسته اعتبار پرې وکړئ.

[وَنُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ (11)]

او وضاحت سره بيانوو مونږه آيتونه د پوهه خلکو لپاره، او دلته يې علماء، اهل علم او په خبره باندې پوهيدونکي خلک څکه خاص ذکر کړل چې هغوی ددې احکامو څخه ګټه پورته کوي، او الآيات نه مراد د مشرکينو انواعو اړوند هغه احکام دي چې مخکې ذکر شو. د هغوی څخه براءت او قتال وغيره.

وَإِنْ نَكَثُوا أَيْمَانَهُمْ مِنْ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوا فِي دِينِكُمْ فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ إِنَّهُمْ لَا أَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُونَ (12)

او که مات کړل دوی خپل قسمونه، وروسته د کلکوالي د هغې، او طعن يې کوو ستاسې په دين کې نو تاسې وجنګيږئ د مشرانو د کفر سره، يقينا نشته دی هيڅ قسمونه ددوی، دې لپاره چې دوی منع شي (د شرک نه).

[وَإِنْ نَكَثُوا أَيْمَانَهُمْ مِنْ بَعْدِ عَهْدِهِمْ]:

دې آيت کريمه کې الله عزوجل د مشرکانو سره قتال لپاره دوه نور اسباب ذکر کوي.

اول: نکث العهد. لوظ ماتول وروسته د کلکوالي څخه.

دويم: په دين باندې طعن کول.

نو دغه معاهدين کفار يادوي چې دوی که لوظ مات کړو نو معاهده يې ختمه ده او قتال به ورسره کولې شي.

او يا (إِنْ) په معنا د (إِذَا) سره دی، مراد ترې هغه کفار دي چې لوظونه يې مخکې مات کړيدي. نو وس رب فرمايي چې جنګ ورسره وکړئ.

[وَطَعَنُوا فِي دِينِكُمْ]:

په دين باندې طعن کول، اعتراض کول او سپکاوي کول مراد دي.

حافظ ابن کثير وايي:

أَيْ: عَابُوهُ وَانْتَقَصُوهُ. وَمِنْ هَاهُنَا أُخِذَ قَتْلُ مَنْ سَبَّ الرَّسُولَ، صَلَوَاتُ اللَّهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِ، أَوْ مَنْ طَعَنَ فِي دِينِ الْإِسْلَامِ أَوْ ذَكَرَهُ بِتَنَقُّصٍ.

معنا دا چې دوی ددين عيب او نقص بيان کړي، او دې ايت کريمه څخه د هغه چا د قتل دليل اخستل شوی دی، چې څوک رسول الله عليه السلام ته کنځل وکړي، او يا په دين باندې عيب ولګوي، او يا يې په نقص سره ياد کړي.

(تفسير ابن کثير)

الله أكبر، نن همدې خاوره کې په

مبارک سنت د رسول الله صلی الله علیه وسلم ګیره باندې ریشخند وهل کیږي، اسلامي فریضه او شرعي حجاب باندې ملنډې وهل کیږي، د عالم نوم پورې خنداګانې کیږي، کتاب او سنت ښکاره سپکاوی کیږي، خو په طالبانو کې داسې څوک نشته چې دغه خلک محاکمه کړي، عبرتناکې سزاګانې ورته ورکړي. بلکې خلافت مجاهدینو څخه ددغه خلکو امنیت ساتي، دا د طالبانو سوچه اسلامی نظام دی ؟ او وایي ددې په خلاف ټوپک راخستل خارجیت دی.

څو ورځې مخکې د هند حاکم ګوند BJP (بهارتیه جنتا پارټي) ویندویانو "نور پور شرما" او "نوین کمار جیندا " لخوا د نبي علیه السلام د توهین حادثه رامنځ ته شوه، نو اول خو طالبان هندوانو سره کومه صلحه نده کړې، بالفرض کچیرې دا ومنو چې طالبانو ورسره شرعي (!) صلح کړې وه خو کله چې هغوی په دین باندې طعن وکړو، د نبي علیه السلام ګستاخي یې وکړه، نو وس الله عزوجل فرمایي چې دغه کفارو سره وجنګیږئ، او طالبان ورته زارئ کوي چې راشئ دلته سفارت خلاص کړئ، د ښځینه وو او نارینه وو پوځیانو روزنې موافقې ورسره کوي، نو په ایمان یې اوویاست چې همدا اسلامي نظام دی چې د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ګستاخانو ته دې هرکلی وشي او د امداد او کومک په پار دې ورته د سوال څولۍ وغوړولی شي ؟؟

[فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ]:

دلته الله عزوجل د فتنې او فساد جرړې پرې کولو لنډ فارمول ښودلې دی.

مجاهدینو او مسلمانانو ورونو که غواړو چې د یو شرکي نظام بیخکندي وکړو، باید د هغوی مشران، قائدین او د سر سړي ووژنو.

آئمة الکفر کې د یو نظام لوړ پوړي چارواکي، علماء السوء، ناکاره ملایان او صحافیان وغیره شامل دي.

بیا اصل خو دا قتال دی، وژل مراد دي، خو کچیرې زمونږ لاس رسی ورته نه وي نو د خپل وسع مطابق حرکت خو باید وکړو، لکه اسلامي خلافت خراسان ولایت ددغه توهین غچ د کابل کارته پروان هندوانو او سیکانو څخه واخستلو او ابو محمد تاجیکي تقبله الله په درمسال باندې ددوی مذهبي مراسمو دوران کې انغماسي برید وکړ، چې په پایله کې یې لسګونه سیکان مردار کړل او ددې سربیره د درمسال ساتونکي طالبان یې هم په درجنونو د جهنم کندو ته واستول، ان شاء الله. چې د هند توهین کونکو ددې برید له امله بغارې ووهلې، د هند بهرنیو چارو وزارت دا پیښه وغندله او ژوره خواشیني یې څرګنده کړه. خو بالمقابل طالبان چې د امریکا لخوا ورسپارل شوي توپونه ، ټانکونه او طیارې لري، خو دوی د خپل نبي ګستاخانو ته ترخه خبره هم ونه کړه، فقط په ټویټر پاڼه یې تش په ټکو سره دا کړنه وغندله خو بیرته یې د خندا او خوشحالی مجلسونو انځورونه خپاره کړل، چې دغه انځورونو دا په ډاګه کړه چې هغه غندنه یوازې یو تجارتي اعلان و. که نور هیڅ د طالبانو په وسع نه و پوره، حد اقل هند سره خو به یې هجران او بائیکاټ کړی وی، د مرستو په پار خو به یې زارۍ ورته نه کولای یا د مجاهدینو بریدونو څخه به یې دا د غوا زامن نه ژغورلای ؟

همدغه رنګ مونږ تاسې باید د کفارو مشرانو شخصیت وژنه وکړو، د ارتداد او کفر مشرانو نواقض راڅرګند کړو، وس دا د طالبانو مشرانو کفریات چې په واضحه توګه بیان شي، نو مسلمانان ترې خپله خلاف کیږي. اګر که ډیر بې شعوره خلک هم دلته اوسیږي چې بس د هغه خوراک څښاک او ژوند چې برابر وي نو هیڅ داسلامي نظام په غم کې ندي، خو دا سیمه دپوهانو او د سوچ خاوندانو څخه هم ډکه ده چې په حقایقو او واقعیتونو تدبر کوي او خپل سم لوری ټاکي.

تفسیر طبري راوړي دي: امام قتاده رحمه الله وایي : "(أئمة الکفر) ، أبو سفیان، وأبو جهل، وأمیة بن خلف، وسهیل بن عمرو، وعتبة بن ربیعة." [تفسیر الطبري]

ژباړه: د کفر مشرانو څخه أبو سفیان، أبو جهل، أمیة بن خلف، سهیل بن عمرو، او عتبه بن ربیعه مراد دي.

وَعَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ: مَرَّ سَعْدٌ بِرَجُلٍ مِنَ الْخَوَارِجِ، فَقَالَ الْخَارِجِيُّ: هَذَا مِنْ أَئِمَّةِ الْكُفْرِ. فَقَالَ سَعْدٌ: كَذَبْتَ، بَلْ أَنَا قَاتَلْتُ أَئِمَّةَ الْكُفْرِ. رَوَاهُ ابْنُ مَرْدَوَيْهِ.

یو ځل سعد رضي الله عنه د یو خارجي په خوا ورتیریدو، هغه خارجي وویل: دا د کفر د امامانو څخه دی. سعد ورته وویل: دروغ وایاست، بلکې ما د کفر امامانو سره جنګ کړی دی.

دا خوارج داسې ظالمان وو، صحابه وو ته یې د کفر امامان ویل. نن هم باطل پرسته خلک د اسلامي خلافت مجاهدینو ته خوارج وایي، سره ددې چې د صحابه وو په ناموس او عزت باندې همدې مجاهدینو څومره قربانیانې ورکړې، ټول عالم پرې ګواه دی، الا من أعمی الله بصیرتهم. او طالبان د همدغه صحابه وو دښمنانو روافضو اقتداء کې نمایشي مونځونه کوي، امنیت یې تامینوي، خو بیا هم سوچه مسلمانان دي !!

او اسلامي خلافت خو د خوارجو بیخکندي وکړه، په غرب افریقا کې دبوکوحرام مشهوره خارجي ډله د مجاهدینو د لاسه ختمه شوه. والحمد لله.

حافظ ابن کثیر وایي:

وَالصَّحِيحُ أَنَّ الْآيَةَ عَامَّةٌ، وَإِنْ كَانَ سَبَبُ نُزُولِهَا مُشْرِكِي قُرَيْشٍ فَهِيَ عَامَّةٌ لَهُمْ وَلِغَيْرِهِمْ، واللَّهُ أَعْلَمُ.

صحیح خبره دا ده چې دا آیت عام دی، اګر که سبب نزول یې د قریشو مشرکان وو خو دا هغوی او نورو (مشرکانو) لپاره عام دی.

لکه تفسیر ابن أبي حاتم ذکر کړیدي:

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، أَنَّهُ كَانَ فِي عَهْدِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ إِلَى النَّاسِ حِينَ وَجَّهَهُمْ إِلَى الشَّامِ قَالَ: " إِنَّكُمْ سَتَجِدُونَ قَوْمًا مُحَوَّقَةً رُءُوسِهِمْ فَاضْرِبُوا مَقَاعِدَ الشَّيْطَانِ مِنْهُمْ بِالسُّيُوفِ فَوَاللَّهِ لَأَنْ أَقْتُلَ رَجُلًا مِنْهُمْ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَقْتُلَ سَبْعِينَ مِنْ غَيْرِهِمْ وَذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ يَقُولُ: ﴿فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ﴾ [التوبة: 12] " [تفسير ابن أبي حاتم]

ژباړه: عبد الرحمن بن جبیر وایي ابو بکر رضي الله عنه چې کله خلک شام ته لیږل نو ورته یې وویل: تاسو به بعضې داسې خلک ومونډئ چې په سرونو به یې ویښته نه وي، نو د شیطان د ناستې ځایونه (د دوی سرونه) په تورو باندې اووهئ ځکه قسم په الله پدوی کې یو کس وژل ما ته د نورو اویا کسانو وژلو څخه غوره دي او دا په دی خاطر چې الله تعالی فرمایی: ﴿فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ﴾ [التوبة: 12]

[إِنَّهُمْ لَا أَيْمَانَ لَهُمْ]:

جمهورو همدا أیمان باندې فتحه ویلې ده. معنا به دا شی چې د کفارو لوظونه حقیقت کې لوظونه ندي.

او ابن عامر په کسرې سره ویلې دی (لا إیمان لهم)، چې بیا به معنا دا شي دا لوظ ماتونکي او عیب لګونکي کسان مومنان ندي نو ځکه قتال یې واجب دی او وینه او مال یې مباح دي.

[لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُونَ] :

دا د کفارو قتال سلسله به تر کومه دوام کوي ؟

تر دې چې دوی د کفر، عناد او ګمراهۍ څخه راوګرځي.

آیا نن سبا افغانستان، پاکستان، سعودي، ایران، مصر، فلسطین، عراق، شام او ترکیا کې همداسې شوي دي ؟ نا، ندي شوي نو ځکه جهاد به جاري وي.

أَلَا تُقَاتِلُونَ قَوْمًا نَكَثُوا أَيْمَانَهُمْ وَهَمُّوا بِإِخْرَاجِ الرَّسُولِ وَهُمْ بَدَءُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ أَتَخْشَوْنَهُمْ فَاللَّهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَوْهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (13)

ولې جنګ نه کوئ د هغه قوم سره چې مات کړي یې دي خپل قسمونه، او کوشش یې کړی و په ویستلو د رسول علیه السلام کې، او دوی شروع وکړه په تاسې (په جنګ کولو کې) اول ځل. آیا ډاریږئ تاسې د دوی نه، پس الله تعالی زیات حقدار دی چې تاسې ترې ویره وکړئ، کچیرې تاسې مومنان یاست.

پدې آیت کریمه کې الله عزوجل تحریض ورکوي مومنانو ته په قتال د مشرکانو باندې، او درې علتونه د قتال به ذکر شي.

اول علت: نکث الأیمان. دقسمونو ماتول.

دویم علت: رسول الله علیه السلام د مکې څخه ویستلو کوشش کول.

دریم علت: د هغوی لخوا د جګړې پیل.

[أَلَا تُقَاتِلُونَ]:

دې ته حرف التحضیض ویل کیږي. او په وخت د تیزوالي د یو عمل کې استعمالیږي. چې تاسې ولې هغه مشرکانو سره جنګ نه کوئ چې هغوی کې دا صفات موجود دي.

تاسې سره کړي لوظونه یې مات کړیدي.

او نبي علیه السلام د ویستلو کوشش یې کړیدی، فقط هَمّ او اراده نده مراد، بلکې دې مشرکانو عملا نبي علیه السلام په خلاف اقدام کړی و. او یا دا ویستل د مکې نه مراد دي او یا د مدینې نه، نو مکې نه ویستلو کې خو کامیاب شول خو د مدینې څخه ویستلو کې الله عزوجل هغوی ناکام کړل.

نن سبا هم دا کفار، یهود، نصارا، سیکولران او بت پرستان لګیا دي، مومنان د خپلو سیمو څخه وباسي، که تمکین وي، نو تمکین ورله ختمول غواړي، نو رب فرمایي چې هغوی تاسې وباسي نو ولې ورسره قتال نه کوئ.

دریم علت کې هم ترغیب دی قتال ته، چې شروع او پیل درباندې هم دې مشرکانو کړی دی، هغوی درنه سیمې اشغال کړیدي، د عقیدوي اشغال په لټه کې دي، نو تاسې ولې ځان بندوئ د هغوی قتال څخه.

[أَتَخْشَوْنَهُمْ]:

دلته الله عزوجل توبیخ ورکوي قاعدینو د جهاد ته، زجر ورکوي، رټنه ورکوي، پیغور ورکوي، چې آیت تاسې د کافر څخه ډاریږئ ؟

د وسائلو نه یې ډاریږئ، د اسارت او شهادت څخه ډاریږئ ؟

نو الله رب العالمین ډیر لایق دی چې د هغه څخه انسان وډار شي، دغه خلکو یقین او ایمان کمزوری دی، دوی څه فکر کوي چې الله به یې همداسې بې

کومکه پریږدي ؟ که دا خبره نه وي نو ولې جهاد نه کوئ ؟ ولې په کور ناست یاست ؟

افسوس دې په قاعدینو د جهاد باندې او خصوصا په هغه علماؤ چې دا آیتونه لولي، او بیا پرې عمل نه کوي، چې الله رب العالمین دا حکم یو یو فرد ته متوجه کوي، چې زیده، ته ولې جهاد نه کوې ؟ فلانې شیخ صیب ولې قتال نه کوې ؟ اې ځوانه ولې د ملګرو ملتونو په شرکي اصولو ولاړ نظام پر خلاف ټوپک نه راخلې ؟

او خوشحالي ده د هغه مجاهدینو لپاره چې هغوی د رب العالمین دې حکم ته لبیک وایي.

سبحان الله، د طالبانو خپل اعلامیان او سیاسي شنونکي وایي چې ډېر کرت د ملګرو ملتونو فشار او ډار له امله د دوی رسمي فرمانونه هم لغوه کیږي.

[إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ]:

که مومن وي نو قتال به خامخا کوي، که قتال نه کوي، معلومه شوه چې ایمان کې یې نقص دی. علت د قعود د ایمان ضعف دی، دا نورې بهانې چې ځان ته جوړوي نو ګوره دا دروغ دي.

قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ (14)

وجنګیږئ ددوی سره، عذاب به ورکړي دوی ته الله تعالی ستاسې په لاسونو باندې، او وبه شرموي دوی لره، او د هغوی په مقابله کې به ستاسې کومک وکړي، او شفا به ورکړي د مومنانو سینو ته.

تفسیر:

دې آیت کریمه کې الله عزوجل د قتال څلور فواید ذکر کوي، مخکې علتونه ذکر شو، وس ثمره او نتیجه د قتال ذکر کوي.

الْأُولَى: تَعْذِيبُ اللَّهِ لِلْكُفَّارِ بِأَيْدِي الْمُؤْمِنِينَ بِالْقَتْلِ وَالْأَسْرِ.

اوله فایده: دالله تعالی عذاب ورکول کفارو لره په لاسونو د مومنانو باندې، قتل سره او یا اسارت سره.

وَالثَّانِيَةُ: إِخْزَاؤُهُمْ، قِيلَ: بِالْأَسْرِ، وَقِيلَ: بِمَا نَزَلَ بِهِمْ مِنَ الذُّلِّ وَالْهَوَانِ.

دویمه فایده: د الله تعالی دوی لره عذاب ورکول په شرمولو سره. ددې نه مراد هم اسارت دی، او یا پدوی د ذلت او سپکاوي راتلل مراد دي.

وَالثَّالِثَةُ: نَصْرُ الْمُسْلِمِينَ عَلَيْهِمْ، وَغَلَبَتُهُمْ لَهُمْ.

دریمه فایده: د هغوی باندې د مسلمانانو غلبه او بریا.

د مسلمانانو نصرت په قتال سره لاس ته رازي، د مسلمانانو نظام قایمیږي، تمکین موجودیږي، داسې خو نه کیږي چې سهار راپاځې او ټوله دنیا کې اسلامي نظام قائم وي، اسلامي محاکم وي، حدود وي، بین الملل قیودو څخه پاک شرعي قوانین وي. لکه دا هغه ملایانو ته سخت توبیخ دی چې وایي جهاد مه کوئ، ټوپک مه راخلئ، بلکې فقط دعاګانې به سرې کوي چې الله عزوجل یو اسلامي نظام راولي، نو الله عزوجل به دا نظام څنګه راولي، خو دا دې مونږ تاسې ته سورت توبه کې وایي چې: قاتلوهم. قتال وکړئ. همدا یواځینی لار ده.

وَالرَّابِعَةُ: أَنَّ اللَّهَ يَشْفِي بِالْقِتَالِ صُدُورَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ مِمَّنْ لَمْ يَشْهَدِ الْقِتَالَ.

څلورمه فایده په قتال کې دا ده، کوم مومنان چې جهاد ته نه وي حاضر شوي، الله به پدې قتال سره د هغوی سینې یخې کړي.

ځکه څوک چې حاضر شي قتال ته، نو د هغه سینه خو په جهاد کې یخیږي، د مشرکانو مرګ څخه خوند اخلي.

لکه مستضعفین دي یا نور مسلمانان دي، د کفارو مرتدینو لخوا شوي ظلمونو له امله یې سینې د غم او خفګان څخه ډکې دي. نو هغوی سینې به یخې شي.

یو استشهادي برید وشي ، ټول مومنان خوشحاله شي، او د کفارو څخه انتقام اخستلو باندې غازیانو ته دعاګانې کوي.

کابل کې یو انغماسي برید په هندوانو او سیکانو باندې ترسره شو، ټول امت مسلمه پرې ویاړي، حتی مخالفینو هم د کابل کارته پروان درمسال برید وستایو. والفضل ما شهدت به الأعداء.

یو د طالب رینجر والوځي، ټول خوشحاله وي، یو د اسرائیلو یهودي مردار شي، یا غرب افریقا کې نصراني ووژل شي، یا امریکایي او روسي پوځي ووژل شي، د آي ایس آي کارمند یا پاکستان پوځي یا رافضي ووژل شي نو ټول مسلمانان خوشحاله وي. د رب حمدونه ادا کوي، او مجاهدینو ته دعاګانې کوي.

او څوک چې منافق وي یا د مرتدینو ملاتړې وي، هغه پرې خامخا خفه کیږي، ځکه د هغه ولاء د کفارو او مرتدینو سره وي. دا د رب دکلام ګواهي ده.

وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَى مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (15)

او لرې به کړي غصه د زړونو د کافرانو څخه، او مهرباني به وکړي الله تعالی په هغه چا باندې چې وېې غواړي، (د ایمان توفیق ورکولو سره) او الله تعالی پوهه دی د حکمتونو والا.

تفسیر:

[وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ]:

پدې آیت کریمه کې دوه نور فواید د قتال ذکر کیږي، نو پنځمه فایده دا ده.

وَالْخَامِسَةُ: أَنَّهُ سُبْحَانَهُ يُذْهِبُ بِالْقِتَالِ غَيْظَ قُلُوبِ الْمُؤْمِنِينَ.

د مومنانو د زړونو غصه ورسره الله عزوجل ختموي. تکرار نشته، ځکه مخکې صدر (سینه) ذکر شوه، سینه عامه ده او قلب خاص دی، یا مخکې وعده د فتوحاتو مراد وه او وس د فتوحاتو واقع کیدلو سره د مومن د زړه غصه ختمیږي.

او یا دا ضمیر راجع دی کفارو ته، چې د هغوی د زړونو غصه الله رب العالمین په مرګ سره ختموي، د ټویټر ، فیس بک او د واټساپ پاڼه یې ودریږي او نور ترې د مسلمانانو او مجاهدینو خلاف ښکنځلې نه نشریږي.

[وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَى مَنْ يَشَاءُ]:

دا ابتداء د کلام ده، چې متضمن ده راتلونکې خبرونو لره، یعنې آینده کې به الله عزوجل په بعضې کفارو مهرباني وکړي، هغوی به د شرک څخه توبه وباسي. لکه د مکې والاو چې توبه اوویستله او بیا یې اسلام ډېر خه وو.

[وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ]:

او الله عزوجل علیم دی، پوهه دی په هغه چا چې د اسلام اهل یې ګرځوي لکه ابو سفیان، صفوان بن أمیه او عکرمه بن أبي جهل وغیره او پدې کار کې یې ستر ستر حکمتونه دي.

أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تُتْرَكُوا وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنْكُمْ وَلَمْ يَتَّخِذُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَا رَسُولِهِ وَلَا الْمُؤْمِنِينَ وَلِيجَةً وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ (16)

آیا ګمان کوئ تاسې چې پریښودلې به شئ (بغیر د امتحان نه) او تر اوسه ندي ښکاره کړي الله تعالی هغه کسان چې جهاد یې کړی ستاسې څخه، او د الله تعالی، او د رسول د هغه او مومنانو پرته یې راز دار دوست نه وي نیولې، او الله تعالی خبر دار دی په هغه عملونو چې تاسې یې کوئ.

تفسیر:

دې آیت کریمه کې الله عزوجل قتال ته ترغیب ورکوي او حکمت د قتال ذکر کوي چې امتحان کول دي، په خپلو بندګانو باندې.

الله عزوجل په جهاد سره خلک امتحانوي، چې مومن او فاسق څوک دی ؟

که چا قتال کوو دا مومن دی او که چا قتال نه کوو وروسته راځي الله عزوجل فرمایي دا خلک فاسقان دي، کبیره ګناه کې اخته دي.

دویم امتحان په براءت د کفارو سره کوي، او یا هم دا صفت دې د مجاهدینو، چې کوم خلک مجاهدین دي، کوم خلک جهاد کولای شي ؟ نو هغه څوک جهاد کولای شي چې کلک براءت ولري د هر قسم کفارو څخه. لکه ابراهیم علیه السلام چې براءت کړی و، نه یې مصلحت لټوو، نه یې دخپل کافر لحاظ ساتو، بلکې د ټولو کفارو څخه یې برملا دبراءت اعلان وکړو. او نن سبا همدا الولاء والبراء د ابراهیمي ملت د مجاهدینو امتیاز دی. ولله الحمد علی ذلک.

[وَلِيجَةً]:

امام فراء وایي: الْوَلِيجَةُ: الْبِطَانَةُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ.

ولیجه د مشرکانو پټې دوستانې ته ویل کیږي.

مقصد دا شو چې اې مسلمانانو! تاسې څنګه مشرکانو سره پټې دوستانې کوئ، هغوی ته رازونه ورکوئ.

کافر باندې څنګه اعتماد کوئ، مرتد باندې څنګه اعتماد کوئ، سره ددې چې مخکې الله عزوجل دومره کلکه خبره وکړه، چې دوی د عهد لحاظ نه ساتي، د خپلولۍ لحاظ نه ساتي، ظاهره کې به نرم وي خو حقیقت کې به یې درته دام خپور کړی وي چې کله یې درنه هدف پوره شي بیا دې داسې تش په میدان پریږدي، لکه روسانو چې مرتد نجیب په ډاګه پریښودو، او هغوی ترې پښې سپکې کړې، یا امریکایانو چې اشرف غربي په وچه ډاګه پریښودو، یا هم پاکستان مرتد حکومت چې عبد السلام ضعیف بربنډ امریکایانو باندې وپلورو او داسې مثالونه نور هم زیات دي.

ددغه کفارو جواسیسو او پلویانو لویه نښه دا ده چې په خوله به درته ځان خیرخواه معرفي کړي، چې فلانې کافر نه کومک واخلو، فلانې کافر سره سوله وکړو لږ به مجاهدینو باندې راحت راشي، بس ټول هدف او پلان یې همدا وي چې مجاهدینو او کفارو ترمنځ یو نوعه اړیکه پیدا شي، پیغامات تبادله شي، ناسته او ولاړه رامنځ ته شي، او دا لویه دسیسه وي، د راحت پدې دام کې چې مجاهدین راګیر شول، سبا بل قدم اخلي، آخر دې حد ته رسیږي چې طالبانو پشان سیکولر مسلمانان ترې جوړ شي. أعاذنا الله وایاکم.

[وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِما تَعْمَلُونَ]:

أَيْ: بِجَمِيعِ أَعْمَالِكُمْ.

الله عزوجل ستاسې په اعمالو خبر دی، یعنې په ټولو اعمالو خبر دی. حاصل دا دی چې که دا خفیه دوستانه او تجسسي کړنې د مجاهدینو څخه پټ کړئ، نو الله عزوجل څخه به یې څنګه پټ کړئ ؟ او هغه به ستاسې دا کړنې او رازونه یوه ورځ مجاهدینو ته افشاء کړي. ان شاء الله.



نثر اللؤلؤ والمرجان

في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان

دريم درس

أحمد الله وأسبّحه بعلوّه وكماله الذي خلق السموات والأرض على مِنواله ونُوِّرَت بنوره وزُيّنتْ بجماله ثم استوى على العرش لائقا بذاته وجلاله ولا يخفى عليه شئ من أمور العالم وأفعاله وعليم بجميع أحواله وأعلن الفوز لمن امتثل بإنزاله وإرساله وأصلي وأسلّم على رسوله ونبيه محمد وعلى أهل بيته وأصحابه وآله، أمابعد:

محترمو لوستونکو!

مونږ د الله عزوجل د معرفت سلسله شروع کړې وه، تير درس کې د الله تبارك وتعالى د معرفت اهميت او د معرفت فوائد ذکر شو، بيا بتوفيق الله تعالى د عقيدې مختصر تعارف او د هغې بعضې ضروري متعلقات ذکر شو، چې د اسماء او صفاتو بعضې مهمو اصطلاحات پيژندنه شروع وه، لفظي تحريف بيان شوی وو، اوس راځو معنوي تحريف ته.

دويم: معنوي تحريف دا ديته وايي چې لفظ د نص په ظاهر کې بر قرار پاتې شي، خو معنا کې يې تحريف وشي، مثال يې دا دی چې الله تبارک وتعالى فرمايي: {الرحمن على العرش استوى} نو معطله راولړيدل او ويې ويل چې دلته استوی په معنا د استولی ده او دغه ډول د يَدْ معنا په قدرت او نعمت سره کوي [وګوره اصول الدين للبغدادی ص١١١ واساس التقديس ص١٢٥] د تحريف دغه دواړه قسمونه مذموم قسمونه دي. چې د کتاب او سنت په خلاف په کې د تعطيل اعتقاد توليد کيږي نو دې قسم تحريف کوونکو ته محرّفه او تحريف کوونکي وايي.

دويم راځو تعطيل ته نو دا په لغت کې د عطل نه أخذ دی، چې معنا يې ده پرېښودل، فارغول، خالي کول او رخصت کول خو په اصطلاح د عقيده کې وايي: "نفي أسماء الله وصفاته أو بعضها" نفي کول يعنې پريښودل د الله د ټولو نومونو او صفتونو او يا هم د بعضو له هغې څخه، بيا دغه پرېښودل که په هره طريقه وي نو دې کس ته معطل ويلى شي، که دا تأويل کوونکى وي په دې کې او که تحريف کوونکى وي او بيا دغه تعطيل په دوه قسمه دی لکه څنګه چې د اصطلاحي تعريف نه هم معلومه شوه خوتفصيل يې دا دی:

(١) تعطيل کُلِّي: لکه تعطيل د جهميه وو چې هغوی د ټولو صفاتو نه انکار کوي او دغه ډول غلاة چې دي دوی د صفاتو سره سره اسماء حسنى د الله تبارك وتعالى هم نه مني.

(٢) تعطيل جزئي: لکه تعطيل د اشاعره وو چې هغوی بعضې صفات مني او بعضې نه مني.

دريم چې دی هغه ته تکييف وايي، تکييف په لغت کې يو شي په يو معلوم هيئة ګڼلو او منلو ته وايي او په اصطلاح د عقيده کې: "الخوض في كنه وهيئة الصفات التي أثبتها الله لنفسه او رسوله له" غوپې وهل (ژور بحث کول) په حقيقت او هيئت د هغو صفاتو کې چې الله تبارک وتعالى ځانته ثابت کړي، او يا هم د هغه رسول صلى الله عليه وسلم هغه ته ثابت کړي دي. نو چې يو کس د دغه صفاتو هيئة ذکر کوي او مثلا وايي چې د الله تعالى لاس داسې داسې دی، نو دې کس ته مکيف وايي او دا کار حرام دی.

لکه د امام مالك رحمه الله نه دالله تبارك وتعالى د استوی على العرش متعلق يو کس پوښتنه وکړه چې کيف استوی نو امام رحمه الله ورته سخت غوصه شو او ورته ويې فرمايل: استوی معلومه ده کيفيت يې نامعلوم دی، پوښتنه کول د دې په باره کې بدعت دی خو ته ماته بدعتي ښکاري بيا يې امر وکړ چې دا کس وباسئ [الاعتصام للشاطبي ١/٢٢٩]

اوس راځو تمثيل ته، تمثيل په لغت کې هم مثله او هم صفته ته ويلى شي او په اصطلاح د عقيده کې: "الاعتقاد في صفات الخالق أنها مثل صفات المخلوق" عقيده ساتل په صفاتو د خالق کې دا چې دا د مخلوق د صفاتو غوندې دي، نو دلته په تمثيل کې فرق د تكييف سره دا دی چې تکيف يو ذهني تصور پيش کولو ته وايي. او تمثيل دا د يو موجود سره چې په خارج کې وي د هغې سره من کل وجه مماثل ګڼلو ته وايي، لکه يو کس وايي نعوذ بالله چې د الله لاس د انسان د لاس په شان دی بل فرق يې علما دا هم کوي چې تکييف دا چې يو شي ته معين حقيقت ورکړې بغير له دې چې ته يې په يو مماثل پورې مقيد وګرځوې او تمثيل چې يو صفت د الله تعالى ته د مخلوق د يو صفت سره هم مثله وګرځوې، نو له دې وجې علماء فرمايي: هر تمثيل تکييف دی خو هر تکييف تمثيل نه دی والله اعلم، ديته تشبيه هم وايي چې د دې ويونکي ته ممثّل او مشبّه ويل کيږي، ځکه ده د الله صفت د مخلوق د صفت سره هم مثله او مشابه وګڼلو او دغه کار ته د امت علماوو کفر ويلى دی.

د امام بخاري رحمه الله استاذ نعيم بن حماد رحمه الله فرمايي: "من شبه الله بخلقه فقد كفر ومن أنكر ما وصف به نفسه فقد كفر، وليس ما وصف الله به نفسه ولا رسوله تشبيها" چا چې الله (په څه صفت کې) د مخلوق سره مشابه کړ نو ده کفر وکړو او چا چې انکار وکړو له هغه څه نه چې الله تعالى پرې خپل ځان موصوف ګرځولى نو ده کفر وکړو، او دا تشبيه نه ده چې د الله تبارک وتعالى (هغه صفت دې) ومنل شي چې هغه پرې ځان موصوف کړی او يا ورته د هغه رسول بيان کړی دی. [العلوء للذهبي ص ١٢٦، اجتماع جيوش الاسلاميه ص ٨٦] او او دغه تشبيه ته امام دارمي رحمه الله هم کفر ويلى [نقض الامام ابى سعيد ..على المريسي الجهمي العنيد ١/٢١٩]

او کوم چې تأويل دی نو دا په لغة کې د أوّل يؤول څخه مصدر دی، رجوع کولو ته ويلى شي او په دې اعتبار سره بيا په ډيرو معناګانو سره راځي لکه ذکر د تأويل وي او مراد ترينه تفسير وي لکه دغه اصطلاح مفسرين ډيره استعمالوي او بيا خاص طور سره علامه ابن جرير چې

هغه اکثر د ایت په تفسیر کې فرمايي: القول فی تأویل قوله تعالی کذا وکذا .... او دغه ډول دهغه دا معنا چې اختلف اهل التأویل فی قوله تعالی .... دغه ډول د حقیقت او د معنا په معنا هم راځي لکه سورت یوسف ۴۴ کې چې فرمايي: {وما نحن بتأويل الأحلام بعالمين} نو دلته تأویل د حقیقت او معنا په معنی سره ذکر شوی دی، او دغه معنا د سورة الکهف په ۷۸ نمبرایة کې هم استعمال شوی علامه ابوعبیدة معمر بن مثنی فرمايي: التأويل: ”التفسير والمرجع والمصير“ [مجاز القران ۱/۸۷] او همدا خبر أبو جعفر الطبری رحمه الله هم ذکر کړی [تفسير الطبري ۳/۱۸۴] (سلسله ص 9)

او په اصطلاح کې یې علماء تعریف داسې کوي فرمايي: ”إخراج دلالة اللفظ من الدلالة الحقيقية إلى الدلالة المجازية من غير أن يخل ذلك بعادة لسان العرب في التجوز“

یعنې یو مقصد د لفظ د حقیقي مفهوم نه مجازي مفهوم ته ویستل دي، بغیر له دې چې اسلوب د عربي ژبې په دې مجاز کې مجروح شي [فصل المقال لابن الرشد ص۱۴] خو د متأخرينو په نزد بيا دیته وايي چې: ”هو صرف اللفظ عن المعنى الراجح إلى المعنى المرجوح لدليل يقترن به“

یعنې تاویل اړول د لفظ دي، د یوې راجحې معنا څخه مرجوحې معنا طرف ته خو د یو دلیل له کبله چې دا ورته قرینه وي [مباحث فی علوم القران ص۳۳۷] نو د تأویل دغه مذکوره لغوي او اصطلاحي قسمونه ټول جائز او ممدوح دي.

خو چې کوم تأویل د سیاق د عربي او أصولو د شریعت سره او یا هم د عرف سره ټکر وي، او د هغې مخالف او تضاد وي لکه د معطله وو تأویلونه چې د الله د اسماء حسنی او د هغه تعالی د صفاتو باره کې او دغه ډول د نورو طائفو تأویلونه، لکه د روافضو او متصوفه وو او نور مبتدعینو او باطل پرسته ډلو نو دغه تاویلونه مذموم تأویلونه دي، چې په اصل کی تحریفونه، تبدیلونه او تغییرونه دي چې د دې په مټ او مرسته هره ډله خپل باطل مسلک ثابتول غواړي.

التخجيل والتذليل لفرق النفاة والتعطيل

نو راځو مقصود ته او هغه دا چې کله انسان دا دعوی وکړي چې زما رب او معبود الله دی چې په وجود یې جلي او بدیهي داسې دلایل او نشانیانې موجودې دي، چې ټول حواس یې د ادراک او محسوسیت گواهي او شاهدي ورکوي چې انکار او یا هم شک کول په هغه کې سفاهت، بې وقوفي، جنون، کم عقلي او مکابره گڼلی شي. نو اوس به دغه بنده د دې الله تبارک وتعالی ټول هغه نومونه او صفتونه هم منې چې کوم ورته په قران او حدیث کې ثابت شوي دي.

د الله د اسماء او صفاتو متعلق له پخوانه د اهل السنه والجماعة او د جهمیه او معتزله، معطله وو اختلاف او جگړه را روانه ده اگر چې د دې په اثبات کې په سلگونو صریح او صحیح نصوص منقول او ثابت دي چې اهل السنة والجماعة یې د همدې نصوصو په رڼا کې ثابتوي او مذکوره معطله فرقې یې منکر دي، او خپل باطل مسلک په دې باب کې په داسې تأویلونو مجبورکړي چې د یهودو تحریف به ترې زیات خطرناک نه وي، ځکه دوی چې د الله تبارک وتعالی د أسماء او صفاتو په باره کې کومه عقیده لري نو دا د یو معدوم او غیر موجود صفات خو کیدلی شي البته د الله تبارک وتعالی په باره کې دا سراسر د کتاب، سنت او اجماع د امت سره سره د سلیم عقل نه هم مخالفه عقیده ده او اهل السنة والجماعة چې د الله تبارك اسماء (نومونه) او لایق صفات هغه ته منسوبوي نو دغه جهمیه، معطله او معتزله ورته مشبّه وایي. سره له دې چې د مشبه وو کوم تعریف دی هغه په اهل السنه والجماعة نه صادقیږی علامه ابن أبی العز الحنفی رحمه الله د اسحق بن رهویه نه نقل کړي چې هغه فرمايي: ”علامة جهم وأصحابه دعواهم على أهل السنة والجماعة ما أولعوا به من الكذب أنهم مشبهة“

یعنې د جهم او د هغه د ملگرو ښکاره نښه دا ده چې هغوی دعوې کوي په اهل السنة باندې له هغو دروغو څخه چې دوی پرې ټینگ دي دا چې دوی اهل السنة والجماعة ته مشبهه وايي بلکه دوی په خپله معطله (د صفاتو منکر) دي، دغه ډول ابن ابی العز الحنفی رحمه الله بیا فرمايي: وكذلك قال خلق كثير من أئمة السلف: ”علامة الجهمية تسميتهم أهل السنة مشبهة، فإنه ما من أحد من نفاة شيء من الأسماء والصفات إلا يسمي المثبت لها مشبها“

او ډیرو د سلفو امامانو څخه هغوی دا فرمایلي چې نښه د جهمیه وو دا ده چې دوی اهل السنة والجماعة ته مشبهه وايي ځکه نشته څوک هم (د معطله وو نه) چې هغه د الله د نومونو او صفتونو نه څه برخه نفي کوي، نو د هغې اثبات کوونکو ته دوی د مشبهه وو نوم ورکوي. [شرح عقيدة الطحاويه ص ۷۴]

نو د دې نزاع او اختلا ف مهم باعث او سبب دا دی چې د معطله وو ټولې ډلې په دې باب کې د عقل په مرسته خپل اعتقاد ثابتول غواړي او دا ځکه چې عقل ته دوی په نقل ترجیح او اولویت ورکړی دی.

نو چې د دین کوم حکم او اعتقاد دوی ته د خپل عقل نه مخالف او تضاد ښکاره شي، په تاویلونو، تحریفونو باندې راولړي او انکارونه ترې شروع کړي، خو د دې برعکس بیا د اهل السنه والجماعة عقیده دا ده چې دوی په دې باره کې دا وايي چې اصل په دین کې اتباع ده او عقل دا په معرفت او منلو د دین کې اصل نه دی بلکې دا تابع دی، ځکه عقل مجردي داسې نه شي کولای چې هغه دې اثبات د احکامو ا وعقایدو وکړی شي، بلکې دې کې رجوع قران او حدیث ته کول دي.

نو که بالفرض عقل اثبات د شرايعو او عقايدو کولای شوای نو بیا د وحې انزال او د انبیاوو او رسولانو د ارسال څه معنا او څه ضرورت بیا خو مخلوق ته د دې هیڅ حاجت او ضرورت نه وو نو د یو کار امر او د بل نه نهي او منع ده، دا بیا عبس او باطله وگرځي [الحجه فی بیان المحجة ۱/۳۲۱] خو زه وایم چې دوی ولې دومره سوچ نه کوي که چېرته عقل په معرفة د احکامو کې اصل او اول وي نو بیا پکار وه چې الله ټولو انسانانو ته یو شان او برابر مساوي عقلونه ورکړی وای، ځکه دا به بیا د اتمام الحجه د قبیلې څخه وی، لکه څنگه یې چې على السويه انسانانو او پیریانو ته نبي او کتاب رالیږلی دی، او په دې باندې ایمان راوړلو کې یو شان مامور گرځولی دی، نو له دې وجې اهل السنه والجماعة وایي چې عقل شرط دی په پیژندنه د علومو او احکامو کې او دغه ډول په کمال د اعمالو کې ځکه همدا عقل هغه اله ده چې دې باندې علم او عمل کامل کیږي.

خو البته مستقل حیثیت نه لري، چې ادراک اومعرفة د احکامو او شرایعو دې وکړی شي، ځکه رسولانو ډیر هغه څه راوړي چې عقلونه یې ادراک نه شي کولای نه هغه څه چې عقلونه یې ممتنع گڼي [ملخصا من مجموع الفتاوى ۳/۳۳۹ متصرفا فیه].

ذکرالدرجات في تعطيل الأسماء لِفِرَق النُّفاة

اوس هغه ډلې په دې فصل کې ذکر کوو چې هغوی د صفاتو د الله او د نومونو د هغه نه د خپلو تحریفونو او وهمونو له وجې انکار کوي، دغه انکار د دوی څو قسمه دی.

اول قول: د الله تبارک وتعالی د نومونو په باره کې اول قول دا دی چې هغه تعالی ته به هیڅ نوم نه شي اخیستل کیدې یعنې په هیڅ نوم به نه مسمی کیږي او دا قول د جهمیة وو دی، چې د جهم بن صفوان متبعین او د باطنیة قرامطه وو او د متفلسفة وو او دغه ډول د حلاج او د هغه د پیروکارو دی.

چې دې ډلې ته معطله محضه او نفاة الأسماء هم ویلی شي یاده دې وي چې دغه ډله بیا په خپل منځ کې په څلور حتاِ په پنځه نظریو سره تقسیم شوې چې تفصیل یې په العرش د امام ذهبي کې کتلی شئ، دوی د خپل دغه انکار او تعطیل د عذر او جواز لپاره دلیل دا پیش کوي، چې که چېرته مونږ الله ته د حي او علیم نوم واخلو نو دا خو یې بیا د نورو ژوندو او عالمانو د مخلوق سره مشابهت راغی او که سمیع او بصیر نوم ورته ومنو نو بیا خو یې د انسان سره په دې کې مشابهت راغی او که مونږ ووایو چې رؤف او

رحيم دى، نو بيا يې په دې کې د نبي صلى الله عليه وسلم سره مشابهت راځي نو دوى هر هغه څوک مشبه ګڼي چې هغه الله ته دغه نومونه ثابتوي.

له همدې وجهې نه شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله فرمايي: "جهم كان ينكر أسماء الله تعالى فلا يسميه شيئا لا حيا ولا غير ذلك إلا على سبيل المجاز وهو قول الباطنية من الفلاسفة والقرامطة فهم يقولون لا نسميه حيا ولا عالما ولا قادرا ولا متكلما إلا مجازا بمعنى السلب والإضافة؛ أي هو ليس بجاهل ولا عاجز كذلك قول ابن سينا وأمثاله". جهم به د الله له نومونو منلو څخه انکار کولو نو الله ته يې د هيڅ نوم ورکولو عقيده نه ساتله نه يې ورته حى ويلو او نه نور بغير له دې نه مګر د مجاز به طور (به يې دغه نومونه اغستل جايز ګڼل) او دغه قول (عقيده) د باطنيه وو څخه د فلاسفه او قرامطه وو هم ده.

هغوى هم وايي چې مونږ الله ته د حى، عالم، قادر او متکلم نوم نه ورکوو مګر مجازاً د سلب او اضافت په طريق چې يعنې دا چې دغه الله ناخبره اوعاجز نه دى، او همدا ډول قول د ابن سينا او د هغه د هم عقيده وو هم دى. [مجموع الفتاوى ۵/۳۵۵]، [العرش للذهبي ۱/۸۷]

دويم قول: د الله د نومونو به باره کې دويم قول دا دى چې الله تبارک وتعالى به صرف په دوه نومونو نومول کيږي، فقط چې هغه (خالق) او (قادر) نومونه دي، او دغه قول هم جهم بن صفوان ته منسوب شوى شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله فرمايي:

وروى عنه أنه قال: "لا يسمى باسم يسمى به الخلق، فلم يسمه إلا "بالخالق" و"القادر" لأنه كان جبريا يرى أن العبد لاقدرة له"

ژباړه: او روايت کړې شوې (له جهم څخه) چې ده ويلي چې الله به په داسې نوم نه شي مسمى کيدې چې مخلوق په هغې نوم نومول کيږي نو الله به نه نومول کيږي، مګر په (خالق) او (قادر) نومونو باندې او دا ځکه چې جهم د جبريه وو څخه وو نو دا يې عقيده وه چې د بنده هيڅ قدرت نه شته [منهاج السنة ۲/۵۲۶]، [درء تعارض العقل والنقل ۵/۱۸۷]، [الأنساب للسمعاني ۲/۱۳۳]

دريم قول: دريم قول د الله تعالى د نومونو باره کې هغه دا دى چې د دې نومونو اثبات به کيږي، خو د دې چې کومه معنا ده چې دغه معنا صفات د الله دي، نو دغه صفات به پکې نه شي مراد کيدلى. يعنې د الله نومونه به محضى نومونه وي صفات به ترينه نه شي مراد کيدلاى دغه قول او مسلک بيا د معتزله وو دى، چې ابن حزم ظاهري ورسره هم په دې کې موافقت کړى.

دغه ډول زيديه، اماميه، روافض او بعضو خوارجو هم دې باندې قول کړى دى.

نو معتزله ټول په ټوله د الله نومونه منې خو صفات ترينه نفي کوي، [العرش للذهبى ص۸۲]، نو د دوى د قول نتيجه دا شوه چې د الله په نومونو کې د قدير، عليم، خبير حى او قيوم تر منځه په معنا کې هيڅ فرق نه شته وګوره [العرش ۸۳] [الفصل لابن حزم ۲/۱۶۱]، خو بيا دلته دغه معتزله په دې باره کې په دوه نظرونو او مسلکونو تقسيم شوي.

اول مسلک: دغه نومونه محضه دي او ټول مترادف دي دا د څه معنا لپاره چې مسمى باندې قايمه شي نه دي وضع شوي.

دويم مسلک: دغه نومونه مترادف نه دي خو د دى دا مقصد نه دى چې مونږ دى د (حى) نه حياة او د (قدير) نه قدرة مراد کړو، نو له دې وجهې نه دوى وايي چې عليم بلاعلم قدير بلا قدرة سميع بلا سمع و بصير بلابصر [العرش ص ۸۴]

څلورم قول: د دې قول والا اثبات د اسماء حسنى کوي، سره د اثبات د بعضې معناګانو د هغې او تحريف کوي په بعضې معناګانو د هغې کې چې دا مسلک د اشاعره وو او ماتريديانو او د کلابيه وو دى.

چې تفصيل يې په داډول دى.

(۱) کلابيه او متقدمين أشاعره دوى د الله تبارک وتعالى هغه صفات چې له اسماء څخه ثابتيږي، او په هغې کې فعل د الله تبارک وتعالى وي يعنې فعلي صفات وي، له هغې څخه انکار کوي، دوى چې څومره اياتونه د صفاتو او احاديث ذکر کيږي، دا د اضافت له قبيلې څخه ګرځوي او دې ته ايات الاضافات او احاديث الاضافات وايي نه ايات الصفات او احاديث الصفات . نو په دې سره دوى د جمله هغه اسماء وو نه حقيقة انکار کوي، کومو کې چې د الله سبحانه وتعالى فعلي صفات ذکر دي او دغه ډول نور ټول هغه فعلي صفات نه مني، لکه مجيئة، استوى على العرش، کلام کول، نزول الى سماء الدنيا... نو دغه د اضافت تشريفي له قبيلي څخه ګرځوي نه چې په صفات حقيقية يې حمل کړي.

وګوره [مجموع الفتاوى ۵/۴۳۷]، [الصفات للبيهقي ص ۵۱۷]

(۲) کوم چې متأخرين أشاعره دي، هغوى صرف د اسماء حسنى څخه لازم صفتونه صرف اوه ۷ مني چې هغه دا دي: علم، قدرة، حياة، سمع، بصر، اراده، کلام او نورو کې تحريف او بعضو کې تفويض کوي.

(۳) دريم مذهب د ماتريديانو دى چې هغوى هم دغه اوه ۷ صفات مني او اتم هم ورسره زياتوي، چې هغه صفت د (کون) دى، چې د هغوى هم همدا اعتقاد دى.

دې باره کې د دې مسلکونو والاوو د صفاتو د اثبات لپاره سمه لاره نه ده ګرځولى، بلکې خپل عقل يې د دې لپاره معيار ګرځولى، او د دې له وجې ثابت، ښايسته او ښکلي د کمال نه ډک صفات د الله نه نفي کوي.

انا لله وانا اليه راجعون.

دا شو تر دې ځايه د جهميه، معتزله، اشاعره، کلابيه او ماتريديه وو د اسماء الحسنى په باره کې عقيده اوس راځو د دوى عقايد د صفاتو متعلق ذکرکوو.

ان شاء الله. دوام لري ....



الفلاح والرشاد في مسائل الجهاد ۳

دريم درس : صحيح البخاري كتاب الجهاد

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله الأمين وعلى أزواجه وأصحابه ومن تبعهم في إحسان إلى يوم الدين، أما بعد:

د اميرالمؤمنين في الحديث امام بخاري رحمه الله د صحيح څخه كتاب الجهاد شروع و، تير درس كې د جهاد حكم، د امام اصول بيان شول، د (ان الله اشترى) آيت كريمه وضاحت وشو، بيا د باب د اول حديث بيان شو او د الله په مشيت يې وضاحت وشو، دا خبره بيانه شوه چې د مور او پلار څخه اجازت غوښتل په دفاعي جهاد كې نشته، ها البته كه جهاد اقدامي يعني فرض كفايي وي نو بيا د مور او پلار خدمت اولى دى، د هغوى د اجازې نه بغير يې نه شي كولى چې يو زوى جهاد ته ولاړ شي. اوس راځو دويم حديث ته:

دوهم حديث: رقم الحديث: ۲۷۸۳

عن ابن عباس رضي الله عنهما، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (لا هجرة بعد الفتح، ولكن جهاد ونية، وإذا استنفرتم فانفروا) ژباړه: د ابن عباس رضى الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هجرت نشته (د مكې نه مدينې ته) وروسته د فتح د مكې نه لاكن جهاد (به وي د كفارو سره) او نيت به وي (د خير په كارونو كې) او چې كله درنه د نفير مطالبه وشي نو نفير وكړئ.

[التفكر والمراقبة في ذكرالتطبيق المناسبة]

په دې حديث كې د امام بخاري رحمه الله استاذ علي بن عبد الله المديني دى چې د تعديل او توثيق په باب كې د ثقة ثبت إمام او أعلم أهل العصر بالحديث وعلله په صفت موصوف دى.

له هغه نه دغه حديث په سند سره د ابن عباس نه نقل كوي، بيا شان النزول د حديث دا دى چې دا رسول الله صلى الله عليه وسلم د هجرت په اتم كال د مكې د فتح په ورځ ويلي دى، [صحيح البخارى حديث نمبر ۳۰۷۷ و ارشاد السارى ۵/۳۳] داحديث وروسته هم په باب لا هجرة بعد الفتح كې راوړان دى.

د مذكوره حديث مناسبت د باب سره لفظاً اوصراحتا د ...ولكن جهاد ..او اذاستنفرتم فانفروا جملو سره دى او معنى اواشارةً د...لاهجرة بعد الفتح جملې سره دى

شفاء الأمراض بدفع الشبهة الاعتراض

دلته يو اعتراض دى او هغه دا دى چې په باب كې أفضيلت د جهاد ذكر شوى او حديث كې د دې ذكر نشته .

[الجواب] مونږ دا خبره په مقدمه كې ذكر كړې وه، چې د صحيح البخاري د احاديثو مناسبت د تراجم الأبواب سره كله صراحتا، كله ضمنا، كله معنا او كله اشارةً او حكما وي، دلته خو فضيلت د جهاد لفظا ذكر شوى خو لږ غور او فكر غواړي هغه په دې ډول چې مخكې حديث د ابن مسعود رضى الله عنه كې أفضيلت د جهاد باندې تصريح شوه، او په دې حديث كې د جهاد په كلمه تصريح شوې نو فضيلت د جهاد دې حديث كې هم ثابت شو. والحمد لله رب العالمين.

[إغاثة المغيث في ذكر شرح الحديث]

(لاهجرة بعد الفتح) لا نفي د جنس ده خو دلته

د لاهجرة بعد الفتح معنى دا ده چې لا هجرة واجبة اوجائزة بعدالفتح يعنى هجرة د مكې نه مدينې ته وروسته د فتح د مكې نه واجب او جائز نه دى، لكه د مخكې پشان او دا معنى يې هرګز نده چې ګويا هجرت مطلقا ختم شو، بلكې مقصد د حديث معلوم دى او هغه دا چې مخكې له فتح مكې نه مسلمانانو ته د هجرت امر او حكم شوى وو، چې له مكې نه مدينې ته هجرت وكړي او د الله او د رسول د دې امر په منلو او طاعت كولو سره ابدي خير او د الله رضا حاصله كړي، خو كله چې په اتم هجري كال مكه فتحه شوه نو مخكې له فتحې نه مكه دارالكفر وه او وروسته له فتحې نه دارالاسلام وګرځيده نو د دې نه د هجرت كولو فضيلت اجر او ثواب ختم شو نو اوس مناسب نه ده چې د ثواب په نيت د مكې نه مدينې ته هجرت وكړئ، علامه نووى رحمه الله فرمايي: "والمعنى لا هجرة بعد الفتح من مكة لأنها صارت

دار إسلام وإنما تكون الهجرة من دار الحرب"، او د لاهجرة بعدالفتح معنی دا ده چې د مکې نه هجرت نه کیږي ځکه هغه اوس دارالاسلام وګرځیده او هجرت خو د دارالحرب (دارالکفر) څخه کیږي [۲/۹۸۷]

او دا حکم د هغه چا لپاره وو چې مکه کې اوسیدل او هجرت یې نه وو کړی البته دوی ته دغه غوره والی او خیر په جهاد او صفا نیت باندې حاصلیږي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: لکن جهاد ونیة ..علامه نووي د دې په شرح کې فرمایي: "معناه أن تحصیل الخیر بسبب الهجرة قد انقطع بفتح مکة لکن حصلوه بالجهاد والنیة الصالحة"، معنی د دې جملې دا ده چې هغه خیر چې د هجرت په سبب (د مکې نه مدینې ته) حاصلیدو نو بیشکه هغه د مکې په فتحې سره قطع شو لیکن دوی په جهاد او صحیح نیت سره هغه حاصلولی شي. [ارشاد الساری [(۵/۳۳)

اوس هجرت څه ته وایي نو راځو لاندې فصل کې د دې معنا ذکر کوو.

الفائدة الکبرة في معنی الهجرة

هجرت په لغت کې ترک او پریښودلو ته وایي او په إصطلاح د شریعت کې د دین د حفاظت او بچ کیدو په خاطر د الله د رضا لپاره د دارالکفر څخه دارالاسلام ته تللو ته هجرت وایي او د دې معنی په اعتبار سره بیا دا په درې قسمه ده.

اول: هجرة المکان، چې مسلمان په یو ملک، علاقه، کلي او منطقه کې د خپل دین په احکامو اظهار نه شي کولای، او دا کس بل ځای او کلي ته په تللو قادر وي، نو په ده باندې دغه هجرت کول واجب او فرض دی.

چې دا ورته هجرت وکړي، دغه ډول هجرت څو قسمه ځایونو ته کیدلی شي.

(۱)چې د دارالکفر نه دارالاسلام ته هجرت وکړي، لکه صحابه کرامو چې له مکې نه مدینې ته وکړو.

(۲) که دارالاسلام نه وي او بل دارالکفر وي او په هغې کې دا اظهار د دین کولای شي، نو هلته دې هجرت وکړي، لکه مسلمانانو چې له مکې څخه حبشې ته وکړو.

(۳) د یوې علاقې او کلي خلک ټول په شرک کې اخته وي، او د بلې علاقې خلک د شرک او کفر نه بغیر په ګناهونو کې نو بیا د دې شرک او د کفر د کلي نه دارالمعصیة ته هجرت کولی شي.

او دې ته هم حدیث کې اشاره ده په دې لفظ سره: يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ خَيْرُ مَالِ الرَّجُلِ الْمُسْلِمِ الْغَنَمُ يَتْبَعُ بِهَا شَغَفَ الْجِبَالِ، وَمَوَاقِعَ الْقَطْرِ يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنَ الْفِتَنِ ".

دویم: هجرة العمل، دا هغې ته وایي چې انسان هغه عمل پریږدي چې الله او د هغه رسول ترینه منع کړي دي.

او دا معنا په حدیث کې هم ذکر ده رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایي: (والمهاجر من هجر ما نهي الله عنه) ژباړه: یقیني مهاجر هغه کس دی، چې هغه څه پریږدي چې الله ترینه منع کړی دی.

دریم: هجرة العامل، یعني د یو ګناهګار او مجاهر بالمعاصي انسان پریښودل او هغه سره ناسته ولاړه، راشه او درشه نه کول داسې هم نه لکه د کافر چې پوخ براءت او عداوت ورسره وکړي، بلکه مصلحةً د ده د اصلاح لپاره به ورسره د ده د ګناه موافق براءت او قطع تعلق کوي.

حصول الخبرة في معرفة أقسام الهجرة

بعضې علماوو په شریعت کې د شوو او کیدونکې ټول د هجرتونو أقسام اته ۸ ذکر کړي.

(۱) له مکی څخه حبشو ته

(۲) په دویم ځل بیا حبشو ته هجرت وشو.

(۳) له مکي څخه مدینې ته.

(۴)د قبایلو هجرت نبي صلی الله علیه وسلم ته مدینې ته.

(۵) له معصیاتو هجرت کول یعني د ګناهونو پریښودل.

(۶) هغو خلکو چې مکه کې به یې اسلام راوړ نو هغوی باندې هجرت لازم وو چې مدینې ته رسول الله طرف ته هجرت وکړي.

(۷) هر څوک چې په دارالکفر کې وي او مقابل کې یې دارالاسلام موجود وي نو هلته به هجرت کوي.

(۸) په اخر وخت کې به مسلمانان د شام سرزمین ته هجرت کوي لکه څنګه چې أبو داود د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه حدیث نقل کړی چې هغه فرمایي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریده چې فرمایل یې زر دی چې پرله پسې هجرتونه به کیږي، نو د ځمکې غوره خلک به هغه وي چې د ابراهیم علیه السلام د هجرت ځای یې ځانته ځای ګرځولی وي، او په ځمکه به دغه وخت د دې ځمکې بدترین خلک پاتې وي.

[العبرة في بقاءالهجرة]

اوس دا چې څوک د دې حدیث نه دا معنا مراد نه کړي چې ګویا بس هجرت ختم دی، نو راځو او د هجرت په بقاء دوام او استمرار دلایل ذکر کوو.

اول حدیث: معاویة رضی الله عنه فرمایي: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې فرمایل یې: (لا تنقطع الهجرة حتی تنقطع التوبة، ولا تنقطع التوبة حتی تطلع الشمس من مغربها)

ژباړه: هجرت نه قطع کیږي تر څو چې توبه ویستل نه وي قطع شوې او توبه ویستل نه قطع کیږي تر څو چې لمر د مغرب څخه نه وي راپورته شوی. [رواه ابوداود]

دویم حدیث: عبد الله بن السعدي رضي الله عنه فرمایي چې بیشکه رسول الله - صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (لا تنقطع الهجرة ما قوتل العدو) ژباړه: ترڅو چې دښمن سره قتال کیدلای شي نو هجرت نه ختمیږي (جاری به وي). [رواه أحمد والنسائي] نو دا حدیث هم دلیل دی په دوام او بقا د هجرت او هغه په دې ډول چې جهاد به تر قیامته پورې کیدې شي، او دلته یې هجرت د جهاد سره معلق کړو، چې دلیل دی په دې چې هجرت به هم باقي وي.

علامه صنعاني رحمه الله د دې حدیث په شرح کي فرمایي: "دل الحدیث علی ثبوت حکم الهجرة وأنه باق إلی یوم القیامة فإن قتال العدو مستمر إلی یوم القیامة" دا حدیث دلیل دی په ثبوت د حکم د هجرت او په دې چې دا به باقي وي د قیامت د ورځې پورې ځکه د دښمن سره جنګ دا د قیامته پورې جاری دی [سبل السلام ۲/۴۶۵].

دریم حدیث: سمرة بن جندب رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (من جامع المشرك وسکن معه فهو مثله) څوک چې د مشرک سره یو ځای او هغه سره ووسیده نو دا کس د هغه (مشرک) په مثل شو. [رواه أبو داود]

نو دا حدیث هم دلیل شو په دې چې د مشرکانو د کلي، علاقې او منطقې نه به هجرت کوې او بیا دا هجرت هر وخت او هره زمانه کولی شي چې دلیل دی په بقا د هجرت باندې.

علامه نووي رحمه الله فرمایي: "قال العلماء الهجرة من دار الحرب إلی دار الإسلام باقیة إلی یوم القیامة" [شرح صحیح مسلم ۲/۹۸۶]

(واذااستنفرتم ...) په بعضو نسخو کې فاذااستنفر....په فا سره ذکر شوی او دا د نفیر څخه أخذ ده معنا یې ده پاڅون او قیام او دا د استفعال د باب څخه د ماضي مجهول جمع مخاطب صیغه ده، او په دې باب کې سین او تا د طلب لپاره وي نو معنا یې ده چې کله له تاسو نه امیر او یا هم د هغه نائب د کفارو او مرتدینو خلاف د جهاد لپاره د پاڅون مطالبه وکړي، نو بیا یې حکم ته لبیک ووایې او پاتې نه شئ، علامه نووي رحمه الله فرمایي: "معناه إذا دعاکم السلطان إلی غزو فاذهبوا" یعنې د استنفار معنا دا ده چې کله هم امام خلیفه او امیر غزا ته راوبللئ، نو پس لاړ شئ [۲/۹۸۶]، نو له دې نه معلومه شوه چې کله امام خلیفه او یا د هغه نائب جهاد ته د وتلو امر وکړي، نو بیا جهاد کول په مسلمان بالغ او غیر معذور مکلف باندې فرض او واجب ګرځي، اګر که جهاد فرض کفایي هم وي والله اعلم.

فوائد الحدیث

(۱) کله چې یوه منطقه او علاقه دارالإسلام وګرځي، نو له هغې نه هجرت نه شي کیدلای چې د هجرت او ثواب په نیت بل دارالاسلام ته لاړ شي.

(۲) د هجرت نه بغیر د جهاد او یا هم د صحیح نیت په خاطر بل دارالاسلام یا دارالحرب او علاقې ته وتلی شي.

(۳) د جهاد دوام او فضیلت ته پکې اشاره ده چې جهاد به جاري وي او دا د نورو دلایلو نه صراحتا هم معلومه ده.

(۴) اذااستنفرتم نه صراحتا

معلوميږي چې جهاد په اصل کې فرض کفايي دی، مګر په بعضې اوقاتو او صورتونو کې فرض عين ګرځي چې په خپل ځای کې به ذکر شي، ان شاءالله.

(۵) دليل دی په دوام د جهاد.

(۶) چې کله امام او يا هم د هغه نائب د نفير مطالبه وکړي،نو بيا يې استجابت واجب او ضروري دی. او دا يو له هغو صورتونو څخه دی چې جهاد پرې د کفايي مرتبې څخه عين مرتبې ته رسيږي.

(۷) مسلمانان به امير خليفه او حاکم لري او د هغه د امر طاعت به کوي.

(حديث ۳) (رقم الحديث ۲۷۸۴-)

عن عائشة رضي الله عنها، أنها قالت: يا رسول الله ترى الجهاد أفضل العمل، أفلا نجاهد؟ قال: لكن أفضل الجهاد حج مبرور.

ژباړه: د عايشې مور رضي الله عنها نه روايت دی چې ښځکه هغې وفرمايل: ای د الله رسوله! ته جهاد د ټولو نه غوره عمل ګڼې نو آيا مونږ زنانه جهادونه ونه کړو؟ نو نبی صلی الله عليه وسلم وفرمايل لکن غوره جهاد حج مبرور دی.

التفكر والمراقبه في ذكر التطبيق المناسبة

په دې حديث کې د امام بخاري رحمه الله شيخ او استاذ مسدد بن مسرهد الأزدي چې دا د أزد قبيلې څخه دی الأسدي ورته هم وايي چې د توثيق او تعديل په باب کی د ثقة حافظٌ په وصف مشهور او موصوف دی چې له ده نه دغه حديث په سند سره د عائشې مور رضی الله عنها نه نقل کوي بيا مناسبت د حديث د ترجمة الباب سره صريح او ښکاره په کلمه د: ترى الجهاد أفضل العمل ...او په کلمه د: لكن أفضل الجهاد ...سره دی.

شفاء الأمراض بدفع الاعتراض

حديث د باب سره مناسبت نه لري په دې وجه چې باب کی فضيلت د جهاد ذکر دی، او حديث کې فضيلت د حج ته ترجيح ورکړل شوی ده؟!

(الجواب) حديث د باب سره لفظي او معنوي دواړو طريقو سره مناسبت لري لفظي مناسبت مونږه په التفكر والمراقبة... د عنوان نه لاندې ذکر کړو او معنوي مناسبت دا دی چې عايشه مور رضی الله عنها رسول الله صلی الله عليه وسلم ته فرمايي ترى الجهادأفضل العمل ...نو دا دليل دی په دې چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په نزد جهاد أفضل عمل دی ځکه ورته هغې داسې وفرمايل، بل دا چې حج ته په جهاد کومه ترجيح ورکړل شوې نو دا په حق د زنانه وو کې ده نه په حق د نارينه وو کې ځکه دلته عايشې مور د جهاد د تلو مطالبه کړې كما في الحديث دغه ډول بخاري رحمه الله په دې کتاب الجهاد کې د دې نه بعد نهه پنځوسم ۵۹ نمبر باندې باب په دې نوم وضع کوي چې(باب جهاد النساء) او په هغې کې دوه حديث د عايشې مور رضی الله عنها نه ذکر کوي. چې ۲۸۷۵ او ۲۸۷۶ نمبر حديثونه دي چې په يو د هغې کې عايشې مور او په بل کې د نبي صلی الله عليه وسلم نورو بيبيانو د جهاد د تلو مطالبه کړې. نو نبي صلی الله عليه وسلم ورته فرمايلي: چې ...جهادكن الحج ...اونعم الجهاد الحج ....نو معلومه شوه چې فضيلت د حج په جهاد باندې دا په حق د زنانه وو کې دی، اما په حق د نارينه وو کې نو چې کله حج او جهاد دواړه فرض عين وي، او يا حج او جهاد دواړه کفايي وي نو په دواړو حالاتو کې جهاد افضل او اولی دی وجه دا ده چې جهاد نفع او فوائد عام دي او د حج خاص دي. علماء ليكي فالقياس يقتضي أن المصالح المتعدية أفضل من القاصرة. قياس هم د دې تقاضا کوي چې متعدي مصلحتونه په غير متعدي مصلحتونو افضل او غوره دي [إحكام الأحكام شرح عمدة الأحكام لإبن دقيق العيد ۱/۳۲۵]، ځکه جهادونو سره د دين لوړوالي غلبه او د شرعي نظام تحکيم او تنفيذ واقع کيږي نو له دې کبله جهاد ته په حج ترجيح حاصله ده.

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

(ترى الجهاد افضلُ...) دلته د (افضل)کلمه ذکر ده د دې وضاحت به د دويم باب د کلماتو په شرح کې راشي ان شاالله د (مَبرُور) کلمة په صفت د حج کې ذکر ده دا إسم مفعول صيغه ده دا د (ألبِرُ) څخه أخذ ده معنا يې د حج په صفت کې دلته دا ده يعني هغه حج چې د نيکيو څخه ډک وي حافظ بن حجر رحمه الله د دې په معنا کې ځلور مفهومه ذکر کړي فرمايي:

وقوله الحج المبرور قيل المقبول وقيل الذي لم يخالطه إثم وقيل الخالص.........

ژباړه: د نبي صلی الله عليه وسلم قول چې (الحج المبرور) دی.

د دې په معنا کې ويل شوی داسې حج چې هغه قبول کړې شوی وی. دا هم ويل شوي چې هغه حج چې د حاجي نه پکې ګناه نه وي واقع شوی، او ويل شوي هغه حج چې خالص د الله لپاره شوی وی، ريا او شرک پکې نه وي [فتح الباری ۱/۸۷]، تقريبا همدا مفهوم [علامه عيني رحمه الله هم په عمدة القاري کې ذکر کړی ۱/۱۸۸] علامه شهاب الدين السفيري رحمه الله هم د مبرور حج په باره کې همدا مفاهيم ذکر کړی او بيا فرمايي: "ومن علامة قبول حج الإنسان أنه إذا رجع يكون حاله خيرا من الحال الذي كان قبله"

ژباړه: د يو انسان د حج د قبوليت د نښو څخه دا ده چې دا کله هم د حج نه واپس شي چې د ده حال د هغه حال نه ډير غوره وي کوم چې د حج کولو نه مخکې وو [المجالس الوعظية ۲/۲۸]، يعنې که مخکې دې کس ګناهونه کول او اوس يې پرېښې وو نو دا دليل دی چې حج يې مبرور دی والله أعلم.

دغه مفهوم نووي رحمه الله هم ذکر کړی [شرح مسلم للنووی ۱۱۹/۹]

فوائد الحديث

[۱] مؤمن ته پکار دي چې په أعمالو کې د غوره او أفضل عمل تالاش وکړي.

[۲] په عباداتو او فضايلو کې به د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه أخذ کيدی شي نه د بل کوم أمتي .

[۳] زنانه د نارينه وو سره په عباداتو کې يو شانته دي، خو که شريعت ورته د کوم عبادت په حکم کې فرق او يا هم له هغې څخه منع کړې وي.

[۴] هر چا ته به د هغوی د استعداد وسع او طاقت متعلق او د هغې برابر فتوی ورکيدلای شي.

[۵] زنانه وو ته به زيات په هغو أحکامو د عمل کولو ښودنه کيدلای شي چې هغه د هغوی په حق کې استر وي.

والله أعلم.

له حق منعه کوونکي اسباب

بسم الله الرحمن الرحيم

دا چې د حق او باطل جګړه نه ختميدونکي ده او هر وخت به دغه جګړه روانه وي کله به حق پرست خلک کامیابه وي او کله به باطل پرست خلک هم عارضي کاميابي لاسته راوړي د دوی دغه کاميابي موقته ده او فقط د دنيا د يوڅو محدود ورځولپاره ده، نو په دی اساس د باطل پرستو په اوتو بوتو غوليدل هم ندي پکار، او د دوی د باټو(لاپو)څخه ويره هم نه ده پکار الله تعالی حق پرستو ته په دنيا او اخرت کې کامیابه يې او اوعاقبت خو هسی هم د متقينو دی لکه څنګه چې زمو رب تعالی فرمايلي دي: {إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ} [سُورَةُ الأعراف : 128]

(ځمکه د الله ده، له خپلو بندګانو څخه چې يې چا ته خوښه شي، د هغې وارث يې ګرځوي؛ او وروستۍ کاميابي د پرهېزګارانو په برخه ده.")

همدارنګه رسول صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: "ان الله زوی ـأي جمع وضم ـ لي الأرض، فرأيت مشارقتها و مغاربها، وان أمتي سيبلغ ملكها ما زُوي لي منها" [رواه مسلم] ژباړه: الله تعالی ټوله ځمکه ماته راجمعه کړه، او مايې ختځ او لويديځ وليدلو ، او زما امت به په هغو ځايونو اقتدار پيدا کوي کوم چې ما وليدل.

همدارنګه په يو بل حديث کې هم دغه زيری راغلی دی: ليبلغن هذا الأمر ما بلغ الليل والنهار، ولا يترك الله بيت مدَر ولا وبَر الا أدخله الله هذا الدين بعز عزيز أو بذل ذليل، عز بعزاً يعز الله به الاسلام، وذلاً به الكفر"

ژباړه: الله تعالی به دغه دين هغه ځايونو ته رسوي په کومو ځايونو کې چې شپه او ورځ راځي، او هيڅ کور الله نه پريږدي مګر دغه دين به ورداخلوي، او هر يو عرتمند به په دی سره عزتمند کيږي، او هر ذليله به په دی سره نور هم ذليله او رسوا کيږي.

ددی احاديثو څخه دا په ډاګه معلوميږي چې الله تعالی به حق پرستو موحيدينو ته کاميابي ورکوي او باطل پرست مشرکين به سره د دومره ظاهري زور څخه ذليله کيږي، باطل هيڅکله هم د حق په وړاندی خنډ نشي کيدالی مګر ډير کوچنی خنډ به وي او هغه به هم الله تعالی ختموي او باطل پرست به د فرعون غوندې ذليله کوي، خو موږ او تاسې ته پکارده چې د صبر او استقامت څخه کار واخلو او هيڅکله بايد باطل ته ميلان او نرمي په زړه کې پيدا نکړو.

نو موږ او تاسې ته پکار ده چې په خپله لاره يقين وکړو او بغير د الله تعالی د شريعت څخه نور ټول نظامونه باطل وګڼړو او د باطل په طرف هيڅکله بايد کاږه نشو.

د سيد قطب رحمه الله په دی خبره کې د غور څخه کار واخلئ او زه خپله مقدمه د همدې عبارت په رانقلولو خلاصه کوم او وروسته هغه اسباب ذکرکوم کوم چې کوونکې يې د حق څخه محروميږي او علاج به يې هم ورسره ضمنً بيان شي.

قال سيد قطب رحمه الله

ان الاسلام يضع الكتاب الذي انزله الله بالحق ليحكم بين الناس فيما اختلفو فيه، يضع الكتاب قاعدة للحياة البشرية،ثم تمضي الحياة فاما اتفقت مع هذاه القاعدة وظلت قائمة،عليها فهذا هو الحق. واما خرجت عنها وقامت على قواعد اخرى فهذا هو الباطل،..هذا هو الباطل ولو ارتضاه الناس جميعاً في فترة من فترات التاريخ،فالناس ليسوا هم الحكم فی الحق والباطل، وليس الذي يقرره الناس هو الحق، وليس الذي يقرره الناس هو الدين. على شئ، حقا اذا كان مخالفة للكتاب، ولا تجلعه اصلا من اصول الدين، ولا تجله التفسير الواقعي لهذا الدين، ولا تبرره اجيالا متعاقبة قامت عليه.

ژباړه: الله تعالی قران ددی لپاره نازل کړی، چې په هغه ځه کې قضاوت وکړي کوم کې چې خلک اختلاف لري،او داسې اصول د خلکو لپاره ږدي ترڅو خلک د هغی په اساس ژوند وکړي، او دغه د حق لاره ده، او که چيری ددغی اصولو څخه لری شول او د بشر په لاس يی د قانون تابعداري وکړي، نو دغه طريقه غلطه ده،او په دغه وخت کې خلک بيا د باطل پسی حرکت کوي، اګر که دغه طريقه خلک ومني او د پخوا نه راروانه وي،نو ځکه د الله تعالی فيصله حق ده، او الله تعالی خلک د قضاوت او فيصلی لپاره نه دي ټاکلي نو حق د خلکو خبری نه بلکی د حق معيار قران او سنت دی.

د اسلام نظر د اول نه دغه وو، که چيری د خلکو خبری او عمل د شريعت مخالف وي، نو دغه د دين اصل نه دی اوحقيقت هم نه دی،اګر که په مسلسل ډول دغه کارونه خلکو کړي وي،او عادت وي پری نو بياهم دغه باطل او ناحقه دي.

- ددی عبارت څخه دا معلوميږي چې حق يوازی اسلامي شريعت دی نور ټول نظامونه باطل دي.

د حق نه منعه کوونکي اسباب:

1-جهل:

اکثره خلک د حق څخه د خپل جهالت له وجهی انکار کوي او که تاسې وګورې باطل پرست خلک اکثره ناپوهه او بی علمه وي، اوله همدی وجهی د باطل په تابعداری لګیا وي، الله تعالی فرمایلي دي:[بل اکثرهم لا یعلمون الحق فهم معرضون] ژباړه: په دوی کې زیات خلک حق نه پیژني، نوځکه د حق څخه مخ اړه وي.

همدارنګه علماء فرمايي:باطل په هغو خلکو کې رايج(رواج) کیږي، کومو ته چې د قران، سنتو، د صحابو او د سلفو د اقوالو علم نه وي او نه ددی د زده کولو کوشش کوي.

او شیخ الاسلام ابن تیمه فرمايي:ته به هیڅوک پیدانه کړی چې په بدعت کې اخته وي، مګر ددی وجه به داوي چې د به په علم او عمل دواړو کې په اتباع سنت کې کمی(کوتاهي) کړی وي.

او همدارنګه الله تعالی فرمايي: [سُورَةُ يُونس : 39]

بَلْ كَذَّبُوا بِمَا لَمْ يُحِيطُوا بِعِلْمِهِ وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ

اصلي خبره دا ده، کوم شی چې د دوی د علم په احاطه کښې نه دی راغلی او د کوم شي راتلونکي چې د دوی تر نظر لاندي نه ده راغلې، هغه یې (هرو مرو په اټکلي ډول) دوراغ وګڼه. په همدې ډول خو له دوی څخه مخکې خلکو هم د درواغو نسبتونه کړیدي، نو وګوره د هغو ظالمانو څه عاقبت شو..

او همدارنګه الله تعالی فرمايي: [سُورَةُ النَّمل : 84]

حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوا قَالَ أَكَذَّبْتُم بِآيَاتِي وَلَمْ تُحِيطُوا بِهَا عِلْمًا أَمَّاذَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ

تر دې پوري چې کله ټول راشي، نو (د هغو رب به له هغو څخه) پوښتنه وکړي چې ایا تاسې زما آیتونه دروغ وګڼل، پداسې حال کښې چې تاسې د هغو علمي څېړنه (احاطه) نه وه کړې؟ - که داسې نه وه، نو نور تاسې څه کول؟

نو دددی ټولو ایاتونو څخه دغه معلومیږي چې جهل او ناپوهي تباه کوونکې څیز(شی)دی،او جاهل انسان اکثره د حق څخه اوړیدونکی وي،نوموړو او تاسې ته پکار ده چې قران او سنت په حقیقی معنا مطالعه کړو او بیا باید پری عمل وکړو.

2 - د باطل پرستو خلکو ویره کول:

زیاتره خلک چې حق ته نه تسلیمیږي نو اساسي وجه یې هم همدا وي اکثره خلک د کفارو او طواغیتو څخه ویره لري نو په دی اساس که حق ورته معلوم شي هم نه یې قبلوي او ددغه ډار له وجهی د باطل ملګرتیا کوي،دوی په خپلو مالونو او اهل ویریږي او دا باطل خیال لري که چیري حق ومنو او د حق پرستو ملګري شو نو دا ټول شیان به مونږ نه ضایع شي.

خو موږ او تاسې ته پکارده چې له بی ځایه ډار او ویری څخه ځان وساتو او په رب العالمین صحیح توکل او یقین وکړو ،او د دنیا د تکالیفو څخه باید هیڅ ویره ونکړو بلکې باید فکر وکړو د اخرت د لذتونو او عذابونه په هکله. د دنیا به څه زندان وي؟د طواغیتو به څه ظلمونه وي؟ دغه ټول د جهنم د یوی لمحی سره هم په عذاب کې نه دي برابر.

الله تعالی فرمايي: [سُورَةُ المَائدة : 3] الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن دِينِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ

. نن کافران ستاسي د دین له خوا پوره ناهیلي شویدي، نو تاسي مه ځني ویریږئ، بلکې زما څخه وویریږئ.

نو ددی ایات څخه هم دا معلومیږي چې موږ ته ډار ندی پکار،بلکی موږ باید په هر ځای د حق تابعداري وکړو او د حق پرستو خلکو سره باید یوځای شو.

3 - تقلید کول:

اکثره خلک چې د حق څخه پاتې کیږي او باطل پسی روانیږي نو تقلید یې هم اساسي وجه ده ، د تقلید څخه مطلب دادی چې د یو چا پسې بی دلیله روانیدل او د یاد شخص هره خبره منل اګر که د اسلامي شریعت څخه پری هیڅ دلیل هم نه وي،د اکثرو کفارو د ګمراهی سبب هم د مشرانو تقلید کول دي لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي: [سُورَةُ الزُّخْرُف : 22] {بَلْ قَالُوا إِنَّا وَجَدْنَا آبَاءَنَا عَلَىٰ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰ آثَارِهِم مُّهْتَدُونَ..وَكَذَٰلِكَ مَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَا إِنَّا وَجَدْنَا آبَاءَنَا عَلَىٰ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰ آثَارِهِم مُّقْتَدُونَ}

نه، بلکي دوی وایي چې موږ خپل پلار، نیکه پر یوې کرنلاري باندې مونډلي دي، د هماغو پر قدمونو باندي روان یوو.

په همدې ډول ستا څخه مخکې چې موږ هر کلي ته کوم وېروونکی ولېږه، د هغه (کلي) هوسا شتمنو خلکو همدا وویل چې موږ خپل پلار، نیکه پر یوه کرنلاره باندې مونډلي دي او موږ د هماغوی د لاري پیروي کوو.

تاسې وګورې چې مشرکان څنګه خپلی ګراهی ته د هدایت نوم ورکوي او بیایې تابعداري هم کوي،نو په همدی وجه الله تعالی دغه بدبخته قوم هلاک کړ.

نو موږ او تاسې ته پکار دي چې د دلایلو تابعداري وکړو نه د اشخاصو،شخصیت پرستي د زړونو د مرضونو څخه یو لوی مرض دی چې په اوس وخت کې پری زیات خلک اخته شوي دي، د اهل سنتو تګلاره داده چې د الله او رسول قول تر ټولو اوچت ګڼږي او ددی نه بغیر نور د هیچا لپاره تعصب نکوي،نو موږ او تاسې ته هم د همدې تګلاری خپلول لازمي دي.

4 - باطل پرستو سره اختلاط(ناسته،خبری اترې)کول:

زیات شمیر خلک چې د حق څخه اوړي او د ګمراهی په طرف روانیږي، نو په دوی کې دغه پورته مرض موجود وي؛همدوی په خپله د باطل پرستو مجلسونو ته ورځي په لومړي سر کې پری دوی شه ګمان لري خو وروسته چې کله ګمراه شي نو بیا فکر او دقت هم نکوي څکه دوی اوس خپله هم ګمراه شوي وي، او د باطلو پرستو په ډلو کې د زیادت سبب هم کیږي،

و موږ او تاسې ته پکار ده چې د هغه مجلسونه څخه ډډه وکړو په کومو کې چې د شریعت مخالفت کیږي،الله تعالی فرمایي: [سُورَةُ النِّسَاء : 140]

وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ إِنَّ اللَّهَ جَامِعُ الْمُنَافِقِينَ وَالْكَافِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا

الله په دې کتاب کښې، تاسي ته پخوا امر کړیدی چې که په هر ځای کښې واورئ، چې د الله د ایتونو پر خلاف اواز پورته کیږي او مسخرې ور پوري کیږي، هلته مه کښېنئ، تر هغه چې خلک په کومه بله خبره کښې مصروف شي. اوس که تاسي داسي کوئ، نو تاسي هم د هغو په څېر یاست. باور ولرئ چې الله منافقان او کافران په دوږخ کښې یو ځای راغونډوي.

امام طبري ددی ایات په هکله فرمايي: وفي هذه الآية، الدلالة الواضحة على النهي عن مجالسة أهل الباطل من كل نوع، من المبتدعة والفسقة، عند خوضهم في باطلهم

ژباړه: په دغه ایات کې واضحه دلایل دي پردی چې ، د باطل پرستو مجالسو کې به ناسته نکوی که فاسق وي او که مبتدع وي ،کله چې دوی په باطل کې بحث کوي.

همدارنګه اما قر طبی رحمه الله ددی ایات په هکله فرمايي: قوله تعالى : فلا تقعدوا معهم حتى يخوضوا في حديث غيره أي غير الكفر . إنكم إذا مثلهم فدل بهذا على وجوب اجتناب أصحاب المعاصي إذا ظهر منهم منكر ؛ لأن من لم يجتنبهم فقد رضي فعلهم ، والرضا بالكفر كفر ؛ قال الله عز وجل : إنكم إذا مثلهم . فكل من جلس في مجلس معصية ولم ينكر عليهم يكون معهم في الوزر سواء ، وينبغي أن ينكر عليهم إذا تكلموا بالمعصية وعملوا بها ؛ فإن لم يقدر على النكير عليهم فينبغي أن يقوم عنهم حتى لا يكون من أهل هذه

الآية . وقد روي عن عمر بن عبد العزيز رضي الله عنه أنه أخذ قوما يشربون الخمر ، فقيل له عن أحد الحاضرين : إنه صائم ، فحمل عليه الأدب وقرأ هذه الآية إنكم إذا مثلهم أي إن الرضا بالمعصية معصية ؛ ولهذا يؤاخذ الفاعل والراضي بعقوبة المعاصي حتى يهلكوا بأجمعهم .

ژباړه: دوی سره په مجلسونو کې مه کینه مګر په هغه مجلس کې چې دوی پکی کفر نکوي، إنكم إذا مثلهم داپه دی دلالت کوي چې د ګناهونو د مجالسو څخه لری والی کول واجب دی، او که چا د داسې مجالسو څخه اجتناب ونه وکړ نو دا هم ده هغوي غوندې دی، ځکه رضا په کفر باندې رضا ده، نو دغه ټول په دی دلایل دي که چیري څوک د ګناه په مجلس کې کیناست او رد یې پری ونه کړ نو دوی په ګناه کې یوشانته دي، او مناسبه داده چې په ګناه رد وکړي اوکه طاقت یې نه وو، نوبايد داسې مجلس ترک کړي، ترڅوچې ددی ايات په حکم کې رانشي.

او د عمربن عبدالعزيز نه روايت دي:يو څه نفريې ونيول چې شراب څکونکي وو، نو یونفر ورته وويل چې زه روژه يم ، نو دغه ايات یې ورته د ادب په شکل تلاوت کړ،رضا په ګناه رضا ده، نوپه دی اساس په ګناه کوونکی او راضي نفر دواړو حکم يوشان جاری کیږي.

او په تفسير طنطاوي کې داسې راغلي دي: فأنت ترى أن الآية الكريمة تنهى المؤمنين عن مجالسة الكافرين بآيات الله والمستهزئين بها، لأن أول الشر سماع الشر، ولأن أول مراتب ضعف الإِيمان أن تفتر حماسة المؤمن فى الدفاع عن الحق الذى آمن به.

ومن علامات المؤمن الصادق أنه متى سمع استهزاء بتعاليم دينه فعليه إما أن ينبرى للدفاع عن هذه التعاليم بشجاعة وحماسة وقوله تدمغ الباطل وأهله وتفضح كل معتد أثيم.. وإما أن يقاطع المجالس التى لا يحترم فيها دين الله. أما السكوت عن ذلك باسم التغاضى أو التسامح أو المرونة. أو بغير ذلك من الأسماء، فهذا أو مراتب النفاق الذى يؤدى إلى خزى الدنيا وعذاب الآخرة.

ژباړه:دغه ايات موږ ته دغه خبره کوي چې مؤمن به د کفارو د استهزاء په مجالسو کې نه کيني، ځکه د شر اول قدم د شر اوريدل دي، او د مؤمن د ايمان د ضعف درجه همداد چې ددين د دفاع حماسه يې لمنځه لاړه شي.

او د مؤمن د ايمان د علائموڅخه داده چې په پوره غيرت سره د دين څخه د فاع وکړي او څوک پرينږدي چې دين پوری استهزاء وکړي، او د باطل خلاف وکړي.

اويابايد مجلس ترک کړي، په کوم کې چې د الله د دين عزت نه کيږي،او سکوت کول په نوم د مصلحت او يا د تسامح او يا په هر نوم کول، نو داده د نفاق مرتبه ده چې مرتکب شخص د دنيا او اخرت شرمينده ګی ته رسوي.

امام مالک رحمه الله فرمايلي دي: باطل ته نږديوالی تباهي ده،او په باطل کې خبری کول انسان د حق څخه محرومه وي.

ددی ټول بحث خلاصه داده چې موږ بايد د باطل پرستو او طواغيتو په مجلسونو کې ګډون ونکړو،او که چيری مو اشد ضرورت راغلو نو په قدری ضرورت ورسره خبره کول او نور داسې خلک ترک کول.

5 - د باطل پرستو ډيروالی:

زيات شمير خلک چې د حق څخه اوړي نو همدا وجه هم په کې اساسي رول لري زياتره خلک ددی په اساس پريکړه کوي او د فاسد يقين لری، په کومی خوا چې خلک زيات وي نو دوی به په حقه وي د همدی له وجهی دوی هم بيا ګمراهان شي او د حق څخه په مکمله معنا واوړي، خو دا خبره د اسلام له نظره په مکمل ډول غلطه ده، ځکه په اسلام کې د حق لپاره معيار قران او سنت دی، د خلکو زياتوالې او کموالې په هيڅ شرعي حکم کې زيادت او کموالی نشي راوستلی، نو که يو نفر حقپرسته وي اوټوله دنيا ددی مقابل ته ودريږي دغه نفر په حق اونوره ټوله دنيا باطله دي.

الله تعالى فرمايلي دي:

{وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم بِاللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشْرِكُونَ}[سُورَةُ يُوسُف : 106]

(زياتره له دوی څخه الله نه مني او که يې مني، خو په دې ډول چې له هغه سره نور شريکوي.)

او همدارنګه په بل ايات کې فرمايي:

{وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ}[سُورَةُ الأنعَام : 116]

(او [اې محمده (ص)!] که ته د هغو خلکو د اکثريت په خوله کار وکړې چې په ځمکه کښې ميشته دي، نو هغوی به تا د الله له لارې واړوي. هغوی خو يوازې په ګومان روان او د انګېرنو برابروونکي دي).

دغه اياتونه موږ ته په وضاحت سره وايې چې د خلکو زيادت په حق نه بلکې په باطل دلالت کوي ځکه د ځمکی اکثره خلک خو د شهوت تابعدار دي.

او په صحيح حديث کې هم راغلي دي:

"ماصدق نبي من الانبياء ما صدقت، ان من الانبياء من لم يصدقه من أمته الا رجل واحد"[راوه مسلم]

ژباړه:هيڅ يو پيغمبر زما غوندی تصديق شوی نه دی، او د پيغمبرانو څخه داسی هم شته چې يو نفر پری فقط ايمان راوړی دی .

نو که چيری اکثريت(ډير والی) هميشه صحيح وي؛لکه څنګه چې باطل پرستان وايې نو بيا ددغو پيغمبرانو باره کې دوي څه وايې؟چې دوي باندی فقط يو نفر ايمان راوړی وو!

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلی دي:

بدا الاسلام غريبا وسيعود كما بدا غريباً، فطوبى للغربا" وفي رواية: قيل ومن الغرباء يا رسول الله؟ قال:"ناس صالحون قليل في ناسٍ سوءٍ كثر، ومن

يعصيهم اكثر ممن يطيعهم"
ژباړه: د اسلام شروع په نا اشنا ډول وه، نو بيرته به هماغه د غربت حالات ته وګرځي. نو خوشحالي دی غرباؤو ته. او په بل روايت کې را غلي دي ، يا رسول الله غريبانان کوم خلک دي؟ رسول الله ورته وويل: صالحان خلک دي، خو تعداد يې نسبت بدو خلکو ته کم دی،او ده دوي مخالفين زيات دی د اطاعت کوونکو څخه يې.

او په بخاري او مسلم کې راغلي دي:

"انما الناس كالابل المائة لا تكاد تجد فيها راحلة"

ژباړه:خلک د سلو اوښانو غونډې دي،چې تاسې به په سختی سره په کې داسې اوښ پيدا کړی چې حمل واخلي. يا په بل عبارت: تاسې به په سختی سره داسی نفر پيداکړی، چې د مشکلاتو په وړاندې صبر ولري مګر که په سلو کې که يو وي.

نن ورځ مجاهدين په خورا سختيو او مشکلاتو کې ژوند تيروي، او د امت د کمو خلکو د دی سخت حالات ته فکردی، او د امت د نجات لپاره ډير کم خلک د عمل ميدان ته راوتلي دي.

عبدالله ابن مسعود عمرو بن ميمون ته وايي:

والجماعة ما وأفق الحق وان كنت وحدك.

ژباړه: هغه جماعت او ډله کاميابه ده، چې په حق باندی ولاړه وي اګر که تعداد يې يو نفر هم وي.

او نعيم بن حماد وايي:

اذا فسدت الجماعة فعليك بما كانت عليه الجماعة قبل ان تفسد الجماعة، وان كنت وحدك فانک انت الجماعة الجماعة.

ژباړه: که چيری جماعت فاسد شو، نو ته هغه عمل وکړه کوم چې مخکې جماعت ترسره کولو، او که ته چيري په دغه کار کې يواځې پاتی شوی، نو تاته جماعت او ټولنه ويل کيږي.

حسن بصري رحمه الله وايي:

فان اهل السنة كانوا اقل الناس فيما مضى، وهم اقل الناس فيما بقي، الذين لم يذهبوا مع اهل الاتراف فی اتراقهم، ولا مع اهل البدع فی بدعهم، و صبروا عل سنتهم حتی لقوا ربهم فكونوا كذالک.

ژباړه: اهل سنت په تيرو وختونو کې لږ تعداد خلک وو، او کوم خلک چې تری وروسته پاتی وو نو هغوي د بدعاتيانو او مسريفينو سره هيڅ اړيکه نلري ، او په حق لاره کې د صبر څخه کار اخلي تردی چې مرګ ورته راشي او د الله تعالی سره ملاقات وکړي.

او امام ابن قيم رحمه الله وايي:

اعلم أن الاجماع والحجة والسودا الاعظم هو العالم صاحب الحق وان كان وحده، وان خالفه اهل الارض.

ژباړه: پوهه شه چې حق پرست عالم ، اجماع، حجت، او سواد عظم دی اګر که څانته وي او ټوله دنيا يې مخالفه وي.

نو ډير شرعي نصوص دغه خبره بيانوي، چې اکثريت د خلکو اکثره وخت د شرک، کفر او ګمراهی په لاره روان وي ، او هميشه کم خلک په حق او استقامت ولاړ وي. نو په مکمله توګه د پارلماني طواغيتو او باطل پرستو خبره غلطه ده، چې دوي د حق لپاره معيار اکثريت ګاڼلی دی، نو دوي په سخته کفري غلطی کې واقع دي.

{ فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ }

(نو الله پيغمبران وليږل چې په سم تګ زيري ورکوونکي او د انحراف له نتيجو څخه ويروونکي ول، او له هغو سره يو ځای يې حق کتاب وليږه، تر څو هغه اختلافونه چې د حق په باب د خلکو تر منځ راغلي ول فيصله کړي.

نو ددی بحث خلاصه داده چې د باطل په زيات به هيڅکله حق نه پريږدی بلکی څه چې قران او سنت ويلي د هغی تابعداري لازمي ده.

6 - د باطل پرستو حيلی او چلونه:

د باطل پرستو د دوکو او حيلو په پايله کې هم څه خلک د حق څخه د باطل په طرف ميلان کوي، او اکثره ددی حيلو په واسطه کم درکه او جاهله خلک دوکه کيږي او دغه خلک بيا د باطل په صف کې دريږي، لکه ددی تر ټولو مثال جمهوريت، د ديموکراسی پيروان خلک په پسته ژبه غولوي او ورته وايې چې تاسې د راي(اوټ) حق لری او نوری د دوکی خبری هم ورسره کوي چې په دی سره د دوی په خبرو خلک دوکه کيږي او د اسلام د سياسي نظام څخه انحراف کوي،او يا د بشر حقوقو کفري سازمان خلک د بشر د حق په دروغجن شعار سره دوکه کوي، او د يا د ښځو د حقوقو په نوم د فحشا او کفر د خپراوي لپاره لاری جوړه وي، دغه باطل پرست دغه نرم نومونه د خلکو د دوکه کولو لپاره کاره وي.

په موږ او تاسې لازمي دي چې د باطل پرستو په شبهو او حيلو هيڅکله دوکه نشو، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

[سُورَةُ الأنعَام : 112]

{ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَاطِينَ الْإِنسِ وَالْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُورًا ۚ وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ ۖ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ }

او موږ خو تل همداسي شيطان انسانان او شيطان پيريان د هر پيغمبر دښمنان ګرځولي دي، چې يو بل ته خوږې خبري د غولوني او فريب لپاره رسوي. که ستا د رب دا اراده وای چې هغوی دي داسي ونه کړي، نو هيڅکله به يې داسي نه کول. نو ته هغوی پر خپل حال پرېږده چې په دروغو ترلو کښې اخته وي..

د عکرمه څخه نقل دي: حدثنا سفيان بن وكيع قال، حدثنا أبو نعيم ، عن شريك, عن سعيد بن مسروق, عن عكرمة قوله ، زخرف القول غرورًا) قال: تزيين الباطل بالألسنة)

ژباړه: باطل ډولي کول په خپلو خبرو سره.

د عکرمه د تفسير څخه داسې معلوميږي چې باطل پرست هميشه کوشش کوي تر څوخپل باطل په خبرو سره خلک ته ښه ښکاره کړي او دغه د ټولو باطل والو کار دی.

مجاهد فرمايي:

حدثنا محمد بن عمرو قال، حدثنا أبو عاصم قال، حدثنا عيسى, عن ابن أبي نجيح, عن مجاهد: زخرف القول غرورًا) قال: تزيين الباطل بالألسنة (.

ژباړه: باطل ډولي کول په خپلو خبرو سره.

زياتو مفسيرينو په همدی ډول ورته تفسير کړی دی.

ددی څخه معلوميږی چې موږ بايد د باطل پرستو په خبرو هيڅکله دوکه نشو بلکې د هغوي په ضد و دريږو او د حق دفاع ښه په جرات سره وکړو.

7 - خواهيش پرستي:

د خواهيش تابعداي هم د انسان په ګراهی کې اساسي رول لوبوي،زياتره خلک د خپل نفس د راحت لپاره حق قبلولو ته نه تياريږی او دا ويره يې زړه کې وي،که چيری حق قبول کړو په موږ به سختي راشی نو د همدې وجهی په اساس د نفس امارة با السوء تابعداري کوي او د خپل ګمراه نفس هره ناروا غوښتنه عملي کوي چې په همدی کار سره د توحيد د سپيڅلي عقيدی څخه انحراف کوي او په شرک او کفر کې اخته کيږي،او بعضی خلکو خو بيخي خپل شهوت الاه(رب)جوړ کړی دی، الله تعالی فرمايي:

[سُورَةُ الفُرقان : 43]

{ أَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا }

ته کله د هغه چا حال ته ځير شوی يې چې خپل نفسي خواهش يې خپل خدای ګرځولی وي؟ - ايا ته پر سمه لاره باندي د داسي چا د را اړولو مسئوليت پرغاړه اخيستلای شې؟

ددی ايات څخه په ډاګه دا معلوميږي چې د شهوت تابعداري يو ناکاره عمل دی او انسان د باطل په طرف راونه وي که موږ غواړو چې د باطل څخه نجات پيداکړو نو بايد د خواهيش ونه منو بلکې ځان بايد د قران او سنت حکم ته تسليم کړو.، او په لاندې ايات کې هم دی خبری ته اشاره ده چې بايد د الله تعالی حکم د هيچا لپاره پرينږدو، الله تعالی

فرمايـــي:
{وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَآ أَنزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ فَإِن تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَن يُصِيبَهُم بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ لَفَٰسِقُونَ} [سُورَةُ المَائـدة : 49]

(نو [اې محمده (ص)!] ته د الله له نازل کړي قانون سره سمه ددې خلکو د چارو فېصله وکړه، او د هغو د خواهشاتو پیروي مه کوه. پام کوه چې دا خلك تا په فتنه کښې وانه چوي، يوه ذره قدري دې هم له هغه هدايت څخه وا نه ړوي چې خداى تا ته درلېږلى دى. نو که دوى مخ ورځخه واړوي، نو وپوهېږه چې الله د دوى د ځينو ګناهونو په مجازات کښې، په غم کښې د دوى د اخته کولو اراده کړېده. او دا حقيقت دى چې له دې خلکو څخه زياتره فاسقان دي.)

همدارنګه الله تعالى فرمايي:

او الله تعالى فرمايي:
{فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ}[سُورَةُ النُّور : 63]

(د پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) له حُکم څخه سر غړوونکي بايد ووېرېږي چې په کومه فتنه کښې اخته نه شي يا دردناك عذاب پرې رانشي.)

امام احمد رحمه الله وايي:
په قرانکريم کې مې ۳۳ ځايان پيدا کړه، چې الله تعالى د رسول الله په تابعدارى پکى امر کوي، بيابه دغه ايت امام احمد په مکرر شکل ويلو: فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ.او ويلى به يى چې هدف به دلته دفتنى څخه څه وي؟ بيابه يى ويل شرك دى او علت به يې داسې بيانولو؛ ممکننه ده چې يو څوك د رسول الله بعضى خبرى رد کړي او په زړه کې يې کوږوالى پيدا شي، او په دى سره به هلاك شي. او ويل به يې مراد دلته د فتنى څخه کفر دى.. بعضى خلك د رسول الله حديث پرېږدي، او د خواهشاتو تابعداري کوي،او په خپلو رايو او نظرياتو پسى ځي، او دغه يې معيار جوړکړي وي.

نو موږ او تاسې ته پکار دي چې د خواهيش پرستى څخه ځان وساتو، او د هيچا خبره د حق په مقابله کې ونه منو، په دى پورتنيو اياتو کې د فکر څخه کاروا خلئ.

8 - شخصيت پرستي:

زياتره خلک چې د باطل پرستو په صفونو کې ولاړ وي،اکثره دوى شخصيت پرسته وي،مطلب دادى چې دوى د دليل پر ځاى د اشخاصو تابعدارئ ته لومړيتوب ورکوي،که چيري دغه شخص ګمراه شي نو دوى هم ورسره ګمراه کيږي،خلاصه دا چې دوى د قران او سنت په مقابل کې د احزابو او شخصيتونو پيروي کوي نو ځکه دوى هم د باطل په صف کې وردننه کيږي.

د اسلام مبارک دين موږ د شخصيت پرستى څخه منعه کړي يو،بلکى موږ يې د شريعت په تابعدارى مکلف کړي يو،او الله تعالى د جاهلانو په تقليد په دى لاندې ايات کې رد کوي او د ګمراهونو د يواځنى دليل بطلان بيانوي،الله تعالى فرمايي:
[سُورَةُ المَائدة : 104]
{وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ قَالُوا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ أَوَلَوْ كَانَ ءَابَآؤُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ شَيْـًٔا وَلَا يَهْتَدُونَ }

او کله چې هغو ته ويل کيږي چې د هغه قانون په لوري راشئ چې الله نازل کړيدى او د پيغمبر خوا ته راشئ، نو هغوى په ځواب کښې وايي: «زموږ لپاره خو يوازي هماغه کړنلاره بس ده چې پر هغې موږ خپل پلرونه نيکونه موندلي دي.» - ايا دوى له پلرونو، نيکونو څخه تقليد کوي، که څه هم چې هغوى په هيڅ ونه پوهيږي او له سمي لاري څخه خبر قدري هم نه وي؟

نو ددغى ايات څخه هم دا معلوميږي چې موږ بايد شخصيت پرستى ونکړو، بلکى قران او سنت ته بايد ځان تسليم کړو.

وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه ا جمعهن .



د ذي الحجة لسيزه

{قسم دى په سهار *
او په لسو شپو *
او په جفت او تاق}
[الفجر: ١ – ٣]

له ابن عباس ؓ څخه روايت دى چې نبي ﷺ فرمايلي: (د دې ورځو د عمل په شان غوره عمل نشته)، دوى وويل چې جهاد هم نه دى؟ ويې فرمايل: (جهاد هم نه دى ترې غوره مګر هغه سړى چې په خپل ځان او مال سره ووځي او بيا له هيڅ شي سره بېرته را ونه ګرځي).
[صحيح البخاري]

د دې ورځې له مستحبو اعمالو او آدابو څخه

د نهو ورځو روژه نيول

د نبي ﷺ له ځينو بيبيانو څخه روايت دى وايي: رسول الله ﷺ به د ذى الحجې نهه ورځې روژه نيوله.
[ابو داود روايت کړى]

د عرفې د ورځې روژه نيول

له ابو قتاده الانصاري ؓ: څخه روايت دى: چې له رسول الله ﷺ څخه د عرفې د ورځې د روژې پوښتنه وشوه نو ويې فرمايل: (د تېر او راتلونکي کال ګناهونه توږي).
[مسلم روايت کړى]

قرباني کول

له انس ؓ څخه روايت دى وايي: نبي ﷺ په دوو برګو پسونو سره قرباني وکړه، ما ورته کتل چې په ورمېږ يې ورته قدم ايښى وو بسم الله او الله اکبر يې ويل او دواړه يې په خپل لاس سره ذبح کړل.
[بخاري او مسلم روايت کړى]

تکبيرات لا اله الا الله او الحمدلله ويل

ابن عمر ؓ له نبي ﷺ څخه روايت کړى چې فرمايل يې: (له دې ورځو څخه د الله په نزد لويې ورځې نشته او لکه څومره چې پدې لسو ورځو کې الله ته عمل کول ډېر ګران او محبوب دي په نورو ورځو کې نه دي، نو پدې ورځو کې لا اله الا الله، الله اکبر او الحمدلله ويل ډېر کړئ).
[احمد روايت کړى]

ټول نيک عملونه

په ټولو نېکو عملونو به الله ته نېږدېکت حاصلېږي دا ځکه چې نبي ﷺ عام لفظ ويلى: (لکه څومره چې پدې لسو ورځو کې الله ته عمل کول ډېر ګران دي...) نو غزا کول، سنګرساتنه، ذکر کول، لمونځ کول، د قرآن تلاوت کول، خپلولې پالل، صدقې ورکول او نور ټول پکې شامل دي.

پدې ورځو کې د تکبيراتو کليمې

– الله أكبر، الله أكبر، لا إله إلا الله، والله أكبر، الله أكبر، ولله الحمد.

– الله أكبر، الله أكبر، الله أكبر.

– الله أكبر كبيرا، الله أكبر كبيرا، الله أكبر وأجل، الله أكبر، ولله الحمد.

د هغه چا لپاره چې د قربانۍ اراده لري د نوکانو او وېښتو د کمولو حکم څه دى؟

د ام سلمة ؓ د حديث له وجې واجب ده هغې له نبي ﷺ څخه روايت کړى چې ويې فرمايل: (کله مو چې د ذى الحجې مياشت وليدله او ستاسو د يوه تن د قربانۍ کولو اراده وه نو خپل وېښته او نوکان دې پرېږدي). مسلم روايت کړى

النبأ انفوګرافيک
ذو القعدة ١٤٤٠ هـ

د محمد بن مسلمه لاروی

ابومحمد التاجیکي -تقبله الله تعالی-

د الله عزوجل له ستایلو وروسته دې درود وي د مجاهدینو پر محبوب محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم، د هغه په اصحابو او ټولو لارویانو!

کله چې د هندي مشریکینو یوې ویاندې په ټلویزون کې په یو بحث کې د محمد صل الله علیه وسلم سپکاوې او توهین وکړ ، نو په کار خو دا وه چې د نړۍ مسلمانانو د نړۍ په لر او بر کې هندي مشرکین د خپلو مرګونې ګذارونو لاندې نیولې وې ، خو داسې ونه شوه بلکې اوس نو د نړۍ د تش په نامه اسلامي هیوادونو پریکړې هم کفار کوي او ارزښتونه ورته هم همغوۍ ټاکي ، اوس نو کفارو د داسې مسایلو په غبرګون کې د غندنې او مظاهرو طرحه خلکو ته وړاندې کړې او دا ذهنیت یې ورکړې چې که هر کافر هر چرته د اسلامي شعایرو توهین کاوه او یا هم نور ورته مسایل پیښیدل یا کفارو د مسلمانانو په ناموسونو تجاوز کاوه ، یا هم مسلمانان بې دریغه قتل عام کیدل نو تاسې باید ټوپک ته لاس نه کړئ ، ددوۍ په اصطلاح باید مدني حرکت وکړئ چې هغه د شوي عمل غندنه او یا یې په خلاف مظاهرې دي .

خو د ډیر افسوس خبره داده چې د هندي مشرکینو له لورې د رسول الله صل الله علیه وسلم د توهین په ځواب کې طالب مشرکین چې ځانونه مجاهدین او د نړۍ فاتحان بولي هندوانو سره د دیپلوماتیکو اړیکو غوښتونکي شول ، د طالب مشرکینو تش په نوم د دفاع وزیر بلکې د همدې کفارو او مشرکینو څخه د دفاع مزدور ملا بې وقوف CNN 18 سره په یوه مرکه کې هندوانو سره د صمیمانه اړیکو غوښتنه وکړه او له دوۍ سره یې د ګډو هڅو په پار دیپلوماتیکو اړیکو پیل ته خوښي وښوده او دا یې هم ومنله چې دوۍ به خپل مشرک عسکر هند ته د روزنې لپاره واستوي ، او دوۍ ته یې ډاډ ورکړ چې طالب مشرکینو د اسلامي دولت مخه نیولې او په اینده کې هم طالب مشرکین دا توانایي لري چې کفارو ته د امن ورکولو په خاطر په نورو ملکونو کې هم د اسلامي دولت مخه ونیسي ، همدا صمیمي خبرې ددې سبب شوې چې د هند لوړ پوړي چارپایان افغانستان ته راغلل او د طالب مشرکینو له لوړ پوړو چارپایانو سره یې مجلسونه او د مسلمانانو په ضرر او نقصان پټ تړونونه وکړل همدې دوستۍ او موالاتو هندي مشرکینو ته لا جرات ورکړ چې بیا یې یو بل لوړ پوړي مشر د محمد صل الله علیه وسلم ته د سپکاوي ډک ټویټ وکړ .

همغه وخت ورته د اسلامي دولت د خراسان ولایت سرښندونکو زمرو ګوت څنډنه وکړه چې طالب مشرکین هیڅکله دا وړتیا نه لري چې دا د غوا زامن به زموږ له بریدونو وساتي .

الله عزوجل مجاهدینو ته توفیق ورکړ او ابو محمد تاجکي په دې وتوانیده چې د ۱۴۴۳ \ ذوالقعدة ... . شنبې په ورځ په کابل کې د هندي مشرکینو یو د یو مندر داخل ته په داسې حال کې ځان ورسوي چې لا له وړاندې په سېمه کې د مشرکینو مرستې ته راتلونکو طالب مشرکینو د شیندلو لپاره یو موټر بم او څلور وژونکي ماینونه په مختلفو حساسو نقطو کې ځاې په ځاې شوې و ، ابو محمد د درمسال په خوله کې ناست مشرکین ووژل او د درمسال داخل ته په ننوتلو وتاونید ابو محمد داخل کې د هندي مشرکینو په وژلو بوخت و او نور ورونه یې بهر د هندي مشرکینو مرستې ته راتلونکي طالب مشرکین د موټر بم او ماینونو په لمبو هغه مهال وسیزل کله چې دوۍ د ماینونو او موټر بم په ساحو کې راټول شول ، مجاهدینو هغه مهال د ریموټ په ذریعه موټر بم ته انفجار وکړ چې د طالب مشرکینو ګڼ شمیر د خپلو عرادو سره د درمسال د اور د وژلو او د خپلو ورونو هندوانو د ژغورولو لپاره راټول شوې و .

لله الحمد په دغه بریدونو کې د هندوانو مندر په مکمل ډول ویجاړ شو.



پـه لسـګونو طالـب او هنـدي مشرکینـو تـه مـرګ ژوبلـه واوښـته ، خـو دا چـې طالـب مشرکینـو د برید سره سـم سـېمې تـه ورغلـې لارې وتړلـې او هیڅـوک یـې د برید د مالوماتـو اخسـتو لپـاره سـاحې تـه نـه ورپرېښـودل او پـه اوسـني وخـت کـې نـو دا پـه ډېـر جدیت دوی تعقیبـوي چـې هیـڅ ډول رسـنۍ پـه دوی د شـویو بریدونـو هیـڅ قسـم ارقـام او ویجـاړې خپـره نـه کـړي او هغـه څـه چـې دا دروغجـن ویاندویـان یـې وایـي رسـنۍ مکلـف دي چـې همغـه نـشر کـړي خـو بیـا هـم پـه دغـه برید کـې ددوی لسـګونو دواړه قسـمه مشرکینـو طالبانـو او هندوانـو تـه مـرګ ژوبلـه واوښـته .

دا استشهادي اتل څوک و چې د خپل خوږ پیغمبر محمد صل الله علیه وسلم د سپکاوي غچ یې واخست او لا هم دا لړې چې ده یې پیل وکړ همداسې به روانهوي باذن الله او د نړۍ په هیڅ ګوټ کې به هندي مشرکین نجات ونمومي .

استاد عبد الله ابو محمد تقبله الله د سلګونو مجاهدینو استاد محبوب و، په څېره او خوله یې تل خندا وه، تقبله الله في علیین. سبحان الله اوس مې هم زړه له اخلاصه ورته دعا کوي خو کله ځواب راکولای شي.

ابو محمد تقبله الله یو له هغو خلکو و چې د شهادت تږی او د الله عزوجل د ملاقات هیله مند و، نوموړي په سلګونو خلک دې سپېڅلي لار ته چې د نصرت او بریا لار ده، روزلي او تیار کړي او عملي ډګر ته یې لیږلي چې ډېری یې استشهادیان وه او له ډېرو کلونو د حق په لټه کې و، ټول کوښښونه یې د الله عزوجل د دین د نصرت لپاره وه، ډېری کتابونه یې وژباړل چې أمت ترې ګټه واخلي او د ده لپاره صدقه جاریه وګرځي، ابو محمد په اخلاص یې دین ته خدمت کاوه چې الله عزوجل د سلګونو أمتیانو د هدایت سبب ګرځولی و. دنیا ته یې شا اړولې وه مخ پر وارندې روان و، د جهاد ډګر ته به په زغاسته ور روان و، تل به په خندا او منډه د رب لور ته ور په منډه و، مخلص و ځکه الله عزوجل ورڅخه قبول کړل او په خپله لار کې یې استعمال کړ. د الله عزوجل له لوري په ډېرو سختو امتحانونو ازمایل کېده، له سختو آزموینو څخه یو دا و چې د هېڅ بچې پلار نشو خو هیله به یې لرله چې د سپېڅلو، اتلو مېړنیو مجاهدینو پلار اوسي، بس د الله عزوجل حکمتونه دي چې تر پایه پلار نشو خو د دې أمت د ډېرو ځوانانو د معنوي پلار حیثیت یې غوره کړی و، غواړم چې د هغه له مزاحونو څخه یو در سره شریکه کړم چې اې د أمت زلمیه! د دین سختي او تنګي په هر وخت کې نه وي.

ابو محمد له خپلي أهل "کور والا" سره داسې مزاح یا ټوکه کوله لکه محمد "صلی الله علیه وسلم"، یوه ورځ یې خپلې کور والا ته خپله د لاس ګوته وروښوده او ویې پوښتله چې اې کور وداني! دا ګوته مې څنګه یا لکه د څه غونډې ده؟

کور والا یې ډېر فکر وکړ او ویې ویل چې والله اعلم چې دا به څه په څېر وی؟

ابو محمد خپله بله ګوته وروښوده او له خندا په ډکه خوله یې ورته وویل: د دې ګوتې په څېره ده.

زمونږ د زړونو محبوب محمد "صلی الله علیه وسلم" به هم له خپلې کور والا "زمونږ مور عائشې رضی الله عنها" سره همداسې مزاحونه "ټوکې" کولې یعنی د ابو محمد "تقبله الله" په ټوکو کې به هم درواغ نه و ابو محمد یو ریښتینی او امین و.

هغه ډېر کلونه د حق په لټه کې تېر کړي وه او شپه او ورځ د دین په خدمت او نصرت بوخت و. هغه یوې اته کسیزې ډلې ته د احادیثو درس ورکاوه، ډېر شاګردان یې تربیه کړي او د عمل میدان ته یې لیږلي و چې ډېری یې استشهادیان دي او ډېرو شاګردانو یې استشهادي او انغماسي عملیات ترسره کړي دي او دې حلقې ته یې چې درس ورکاوه له څلورو کسانو سره یې د ورورۍ عهد وکړ او یو بل ته یې د ورورۍ لاس ورکړ چې ټول پنځه تنه شول چې یو له بل سره یې ډېره مینه لرله او د یو بل به یې ډېر قدر او عزت کولو او دا ملګري یې هم الله عزوجل په خپل دین کې ډېر استعمال کړل، الله عزوجل ډېر عزت ورکړ، تر دې چې په خراسان کې مسؤلین وټاکل شول چې وروسته بیا دې څلورو کسان نور په لسګونو شاګردان وروزل او خراسان ولایت ته یې ولېږل. له سلو ډېر کتابونه یې وژباړل او ډېر کتابونه یې ولیکل او ډېرې رسالې، مقالې او نشیدونه یا ترانې یې په میراث پرېښودې چې أمت نن هم له هغو څخه ګټه اخلي. هغه څه چې دې د الله د لارې زمرې د الله عزوجل په لار کې وکړل، وایم کېدای شي پر هغو لوی کتاب ولیکل شي، ځینو خلکو بهتانونه ورپورې تړل چې الله عزوجل ورڅخه ژغورلی و. د ځینو مېړنیو او اتلو شاګردانو نمونې یې راوړم چې الله عزوجل د هغوی ساتنه کړې وه.

جلیبیب، معاذ او شهرام تقبلهم الله دا هغه خلک دي چې د استشهاد ډګر اتلان وه، ځینې چې له نړدې، خوږو، د زړه د راز او استشهاد له اتلانو څخه وه، الله عزوجل په هغوی هم د استشهاد د نعمت لورینه وکړه، په لسګونو شاګرانو یې اوس مهال هم د استشهاد په نوم لړ کې نومونه ثبت کړي چې خپل نمبر ته شیبې شمېري ترڅو کفار او مرتدین توټه، ټوټه او اسفل السافلین ته یې ولیږي،

له هغو ځلورو چې لاسونه په لاس کې ورکړي او عهد یې کړی و چې عملي ډګر ته به ځي خو یو تن له ورونو یې ورته یوه داسې پیغام ورولیږه: وروره! په میدان کې مو ډېر انتظار درته وکړ خو تا ناوخته کړه نو په جنت کې درته منتظر یم چې بیا ناوخته نکړې،

سبحان الله!!! چې له دې څو پیغامونو وروسته همدې ورور استشهادي وکړه چې له دوه سوه پنځوسو ډېر شیعه روافض مشرکین یې جهنم ته ولېږل.

له ورځو یوه ورځ خوب ګوري وایي په لمړي آسمان کې وم چې دا ملګری جلیبیب هم هلته وي هغه وویل: تاته همدلته په تمه یم وروره!، له څه مودې وروسته هغه د خراسان په لور هجرت کوي چې مشران او کشران یې ځانګړی احترام کوي او د اعلام د تاجکي ژبې د څانګې مسؤل یې ټاکي. دا وو له هغو ځلورو ملګرو چې یو له بل سره یې عهد کړی و چې یوه موده یې په ځانګړي مهارت او فصاحت سره یې په تاجکي ژبې د نړیوال اسلامي خلافت په اعلام کې کار وکړ او غښتلی دعوت یې کاوه او دا ورورنه په دې تمه و چې له ډېرې مودې وروسته به سره یو ځای کیږي، د یو بل تندې به شکلوي او یو بله ته به د مینې غاړه ورکوي خو د ځینو سببونو له امله چې تر ټولو ستر یې أمنیتي ستونزې وې چې دوی به یوازې په مبایل یو له بل سره رابطه کوله. ډېر کتابونه، رسالې، مقالې او... یې لیکلي ترڅو د أمت ویده ځوانان د غفلت له خوبه را ویښ کړي، د شهادت په مینه یې څو ځله له مشرانو د استشهادي غوښتنه وکړه خو د هغوی له لوري به ورته ویل کېدل چې ته په سلګونو استشهادیان تربیه کړه او چې وخت راشي تاته یې هم برابروو هغه یې نه پرېښوده ترڅو استشهادي وکړي. یوه شپه په خوب کې د خراسان والي شهاب المهاجر "حفظه الله" ګوري، وایي: د اوبو په منځ کې یوه لویه ډېره وي او والي صاحب "حفظه الله" د هغې لپاسه ناست وي، هغه ور نږدې کیږي او په اوبو ورګډیږي چې اوبه یې تر سینې ورسیږي چې والي صیب "حفظه الله" ته مخامخ ودریږي، له هغه سره خبرې کوي او هغه بیا ورڅخه د عملیاتو غوښتنه کوي ترڅو اجازه ورکړي.

له خوبه وروسته، یو پنجشیری ورور ورته وایی چې والي صیب حفظه الله ته پیغام ولیږه او په ټینګار ترې وغواړه ترڅو هغه د استشهادي او انغماسي عملیاتو اجازه درکړي. له هغه سره هم یو ازبک ملګری و چې یو بل ته یې ویلي و جنت ته په ننوتلو کې به یو بل له لاسه نیسو "د ملګرتیا په څېر" د خراسان والي دکتور صیب شهاب المهاجر "حفظه الله" یې هم غوښتنه مني او هغوی د بت پالو هندوانو او سکانو د له منځه وړلو استشهادي او انغماسي عملیاتو ته چمتو کوي. د عملیاتو ټاکلې مودې ته شېبې لنډوي، د الله عزوجل لور ته ور روان و او له لسو ډېرو شاګرانو ته یې وصیتونه کول او خپل نائب ملګري ته یې په سیاسي او شخصي برخه کې په دې الفاظو وصیت کاوه:

اې ګرانه وروره! له الله وډار شه، تقوی خپله توښه ونیسه، خپل هدف ته د رسېدو واضحه لار تعقیب کړه، نن د دې امت سترګې تاسو ته دي، خپل قیمتي وخت مه ضایع کوه، د امت د مرستې غږ ته لبیک ویونکی اوسه، د شهادت او د رب د ملاقات تږی اوسه او هر کله چې دې موقع ومونده نو د شهادت په لور په منډه ځان رسوه.

او زیاته یې کړه: اې ګرانه وروره! ان شاء الله زه، جلیبیب او معاذ به تاته په جنت کې منتظر یو، ناوخته نشې، اې ګرانه وروره! والله د الله لپاره درسره مینه لرم. چې ځینې نور عمومي وصیتونه یې هم وکړل.

دې ورور هم د غم او خوښۍ له اوښکو په ډکو سترګو ورته کړه: زه هغه مهال هم په خپل عهد ولاړ وم چې پنځه تنه و، څوک مې نه دې پرېښې چې غیبت دې وکړي او نه مې خپله کړی او دا مو سره ویلي و چې د قیامت په ورځ به یو بل پیدا کوو نو په رسول الله "صلی الله علیه وسلم"، صحابه و "رضوان الله علیهم اجمعین"، معاذ او جلیبیت او نورو ملګرو ته مې سلام ورسوه او معاذ او جلیبیب "تقبلهما الله" ته ووایه چې تاسو منتظر اوسئ زه درځم ان شاء الله العزیز ډېر ژر به مو خواته درشم چې په همدې توګه یې د عملیاتو انتظار هم پای ته ورسېد، هغه یې منظم کړل چې د کابل په ښار کې یې د بت پالو سکانو او هندوانو په ضد مرګوني عملیات ترسره کړل کوم چې ځانګړې موخه یې د الله د رسول "صلی الله علیه السلام" د عزت د انتقام لپاره و چې په ترڅ کې یې الحمدلله بې شماره بت پال او له پنځوسو ډېر طالب بت پاله خبیثان د جهنم کندې ته ولېږل او خپله هم د خپل رب لقاء ته ورغی "نحسبه کذالک والله حسیبه ولا نزکی علی الله أحدا"

سبحان الله! څه عجیب میړني خلک وه چې تاریخونه یې تکراریږي، نن یو ځل بیا د عمر، خالد، سعد او نورو "رضوان الله علیهم اجمعین" میړنیو اسلافو په پل، پل ږدي او د سربښندنو په ډګر کې آزموینه ورکوي، له سلو ډېر کتابونه یې په میراث پرېښودل چې ورونو او نائب ته یې سپارښتنه کړې وه چې کتابونه مې ضایع نشي، هغه جوړ او نشر ته تیار کړئ ترڅو ورڅخه استفاده وشي او پاتې شاګردان یې هم د شهادت تږي دي او یوازینۍ هیله یې همدا ده چې د دین له پراخ خدمت وروسته الله عزوجل د استشهادي توفیق ورنصیب کړي چې په ټوټه، ټوټه بدن، له ریا پرته، د رب په دربار ته حشر شي. عجیبه داده، کله چې د اعلام اړوندې اداري د خپلې برخې امر ته وایي چې د عملیاتو په لور ځم نو له هغه سره یې ډېر خبري رامنځته کیږي امر یې ورته وایي چې : نه ته ډېر خدمت کولای شې، لږ خدمت وکړه ، ته د دعوت په برخه کې تجربه او علمیت لرې باید چې ته نور په سلګونو او زرګونو استشهادیان وروزې ، خو ورور ابو محمد تقبله الله نه قلاریږي ، چې په پای کې أمیر هم پوه شو چې بله نکیږي د رب د لقاء تږی دی نو د ده فیصله ورسره مني او ورته وایي چې د شفاعت وعده راسره وکړه، وعده ترې اخلي الحمدلله، دا لاندې یې مسول ملګري سره د ابو محمد تقبله الله د مکالمې څو بیلګې دي...

ویاړ په داسې باعظمه زلمو !

